٥- خلیلی، خلیل الله. اشکها وخونها: برگزیدهٔ جز سوم دیوان. تدوین: صفی الله ثبات. اسلام آباد: رایزنی فرهنگی سفارت جمهوری اسلامی ایران، ۱۹۸٥.

٦- نظامی گنجه ای، الیاس. کلیات خمسه. تهران: مؤسسه چاپ وانتشارات امیر کبیر، ۱۳۳٤.

۳-۱۰-۱۹۹۰ پیښور
س ـ غ ـ چکنوري

د خزان پسرلی

کال په فصول اربعه ویش دی، او د پسرلي نه پیل کیږي. پسرلی، اوری، مني، ژمی. دا څلور واړه موسمونه بیل بیل خاصیت او اثر لري ـ یو په بل کښې سره نه ګډیږي، خو انسان څه عجیب مخلوق دی، مَعلومیږی چې الله (ج) د انسان په ذات کې اضداد جمع کړیدي او د اکرم او اشرف خطاب یې ورته فرمایلي دي، هلوعاً، ظلوماً جهولا، یې هم ورته ویلي دي، او طب قدیم هم د بني آدم په مزاج کې د عناصر اربعه تشخیص کړیدی او په ام الکتاب کې هم ثابته ده،چې انسان امّاره، لوّامه او مطمئنه خصوصیات لري او فاعل مختار دی.

نو په دې حساب د پامیر د غرۍ په هغه خوا د آمو سین د غاړې د کندوز د چاردرې د کلي د ادب «پسرلی» د قدرت ددغه راز عجائبو واضح نمونه ده،چې د خپل ټاټوبي «افغانستان» نه راوتلی، د هجرت سیلی ځپلی، د آوازګي خزان نتلی دی، ددې ټولو مالي، جسماني او روحاني مصائبو سره يې وکړي شو،چې د آمودسین د غاړې ادبي ګلان پدغسې خزان وهلو حالاتو او شرایطو کې د اباسین په غاړه وکړی، او وده ورکړي، د«سپیدي»په رنا کې يې وپالي، باغ او بن تړي جوړشي، او د افغانستان په خزاني موسم کښې د ادب د پسرلي نمونه خلک وویني، البته د پسرلي صاحب پدې پسرلي کښې د غم، غصې، درد او الم، شکوې او شکایت ازغې د ګلانو نه علاوه دي. ځکه موده«سپیدي»ورکې وې،د صبح صادق درک نه لګیدلۀ، د ادب صحرانشینان شهسواران او شائقین رچې شوندې تړي، لاس ترزنې منتظر ناست وو،چې کله به سپیدی وچوي،چې د سحر په رنا کښې هر څوک د خپل خپل ادبي ذوق مطابق د نظم او نثرد سرچینو په پاکو اوبو د قلم منښوکی لمدې کړي، دا دی د الله (ج) په فضل سپیدي بیا وچاودې، صبح صادق رادبره شو، او اهل قلم د خپل خپل جزدان په خیټو کښې پروت قلم دان نه خپل قلم راپورته کړ،په پو-کوئې تړي دورې و دورولې او د سپیدی په برکت د سپینې ورځ په رنا کښې د شعر او ادب په بن کې د ادب

نو په دې حساب د پامیر د غرۍ په هغه خوا د آمو سین د غاړې د کندوز د چاردرې د کلي د ادب «پسرلی» د قدرت ددغه راز عجائبو واضح نمونه ده،چې د خپل ټاټوبي «افغانستان» نه راوتلی، د هجرت سیلی ځپلی، د آوارګی خزان نتلی دی، ددې ټولو مالي، جسماني او روحاني مصائبو سره يې وکړې شو،چې د آمودسین د غاړې ادبي ګلان پدغسې خزان وهلو حالاتو او شرایطو کې د اباسین په غاړه وکړی، او وده ورکړې، د«سپیدې»په رنا کې يې وپالي، باغ او بن تړې جوړشي، او د افغانستان په خزاني موسم کښې د ادب د پسرلي نمونه خلک وویني، البته د پسرلي صاحب پدې پسرلي کښې د غم، غصې، درد او الم، شکوې او شکایت ازغې د ګلانو نه علاوه دي. ځکه موده«سپیدې»ورکې وې،د صبح صادق درک نه لګیدۀ، د ادب صحرانشینان شهسواران او شائقین رڅې شوندې تړې، لاس ترزنې منتظر ناست وو،چې کله به سپیدی وچوي،چې د سحر په رنا کښې هر ځوک د خپل خپل ادبي ذوق مطابق د نظم او نثرد سرچینو په پاکو اوبو د قلم منښوکی لمدې کړي، دا دی د الله (ج) په فضل سپیدې بیا وچاودې، صبح صادق رادبره شو، او اهل قلم د خپل خپل جزدان په خیټو کښې پروت قلم دان نه خپل قلم راپورته کړ،په پو-کوئې تړې دورې و دورولې او د سپیدی په برکت د سپینې ورځ په رنا کښې د شعر او ادب په بن کې د ادب

ادبي فرهنگي خبرونه

* د روان کال د قوس په درییمه (د ۱۹۹۰ ع کال د نوامبر په ۲٤) نیټه د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا د پیښور د اردو ساینس بورډ په کتابتون کښې یوه مشاعره جوړه شوه. په مشاعره کښې د افغانستان او سرحد یو شمیر شاعرانو ګډون کړی و. د مشاعرې

قومونه او قبیلې او سیمې چې تر اوسه د افغانستان نورو قومونو او خلکو ته ښه معرفي شوي ندي او یا په بل عبارت له بده مرغه د هیواد قومونه او قبیلې یو بل په تاریخي او کلتوري لحاظ ښه سره نه پیژني چې دې نیمګړتیا د دوی په سیاسي او اجتماعي روابطو بده اغیزه کړیده. هر څومره چې د هیواد د قومونو او قبیلو ترمنځ تاریخي او فرهنګي پیژندګلوي دقیقه او زیاته وي، هومره د دوی ترمنځ اتحاد او یووالی هم کیدای شي ډیر ټینګ او پوخ وي.

د دې درک په اساس زه د دغه په څای فرهنګي اقدام د زړه له کومې هر کلی کوم او پدې لار کې د سپیدې د مجلی کار کوونکو ته دبرې هیله کوم.

نورستانیان چې نن د ګران هیواد په شمال ختیځ د هندوکش په جنوبي لمنوکی اوسیږي، له هغو آریایي قبایلو څخه دي چې د نن څخه د مخه د ۳۰۰۰ ق م په شا او خوا کې د بخدي دغه دآریائیانو د جګې جندې لرونکي ښار څخه د هندوکش جنوب ته را تیر او هلته اباد شول.

د تاریخي اسنادو په شهادت، د نورستانیانو د نیکونو د قبیلې نوم په آریاناګې د الینا Alina په نامه مشهور ؤ او دلسو اریایي ملکانو د جنګ په اروند چې د پاروشنی درود په غاړه و شو او هم یې دویدي آثارو په نورو ځایونو کې له الینایانو څخه یادونه شویده چې له



مشر د افغانستان شاغلی لیکوال او محقق محمد اکبر عشیق او مشرمیلمه یې د سرحد نومیالی شاعر ډاکټر اسرار و.

دغه مشاعره د مازیګر له درې بجو څخه تر ماښامه پورې روانه وه او دغو ښاغلو شاعرانو خپل شعرونه په کښې واورول:

محمد صدیق پسرلی، حبیب الله رفیع، همیش خلیل، مفلس درانی، الحاج غلام فاروق چشتي، حمید ګل حمید، فریحان شیدا، غلام حضرت سیمسار، سید رسول ناڅاپه، ډاکټر اسرار، عبدالمتین تسکین، شیر شاه ترخوي، نیمروز قیس، ګل محمد بیتاب، سردار خان سیرت، ډاکټر حفیظ الله خورلن، امان الله نصرت، نور الحبیب نثار، امان الله ساهو، نبات خان خالد او سید صابر شاه صابر.

* د هیواد د نومیالي لیکوال، شاعر او نقاد شاغلي سعد الدین شپون د لومړنۍ چاپي شعري مجموعې «پرخه په ترخه» مخکښه د افغانستان د کلتورۍ ټولنې له خوا دروان کال د قوس په ۱۵ نیټه (د ۱۹۹۰ ع کال د دسمبر په شپږمه) د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې په دفتر کښې وشوه.

د شاغلي شپون «پرخه په ترخه» په همدغو ورځو کښې د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې لخوا چاپ او خپره شوې ده.

د مخکښې په دغه غونډه کښې د افغانستان ګڼ شمیر لیکوالو، شاعرانو او مینه والو او د سرحد یو شمیر لیکوالو ګډون درلود. ددې ادبي غونډې مشر

سناتور غلام نبی چکنوری او مشر میلمه یې د پیښور پوهنتون د پښتو اکیډیمی مشر پروفیسر محمد نواز طایر وو.

د ښاغلي انجنیر عاصم لهٔ خوا د قرآن مجید د څو مبارکو آیتونو له تلاوت وروسته د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنې د مشر پروفیسر عبدالرسول آمین له خوا افتتاحیه وینا وشوه، بیا د افغانستان د کلتوري ټولنې مشر ښاغلی محمد صدیق پسرلی د شپون په دغه شعري مجموعه خپله مقاله واوروله. ورپسې ښاغلي حبیب الله رفیع د شپون د «پرخه په ترخه» په شعري او ادبي ځانګړنو او پروفیسر محمد نواز طایر هم په هغې رابطه خپلې خپلې مقالې واورولې. وروسته ښاغلي سناتور غلام نبی چکنوری خپله وینا واوروله او همدغه راز د بهرنیو پوهانو په نمایندګۍ دنمارکي پښتو پوه جونز.

انولدسن لندې خبرې وکړې.

ددې ادبي غونډې په بهير کې شاغلو: استاد يوسف آيينه، امان الله نصرت، برکت الله کمين او افضل شيرزاد په دغه رابطه خپل خپل شعرونه واورول. په پای کښې شاغلي سعد الدين شپون خپل نوی جالب داستاني اثر، چې د طنز په زړه پورې برخې يې هم لرلې، د «مکښ» په نوم واوراوه.

---

* د افغانستان د هنرونو د معرفی پهٔ لړکې، د افغانستان د کلتورې ټولنې له خوا د «اريک» د مؤسسې په مرسته د روان کال د قوس د مياشتې په شلمه نيټه

(د ١٩٩٠ ع کال د دسمبر په يوولسمه) د خطاطی او نقاشی يو نندارتون د «اريک» په مؤسسه کښې پرانستل شو.

په هغه غونډه کښې چې په همدغه مناسبت جوړه شوې وه، لومړی داریک مشرې میرمن نانسي دوپری د ښه راغلاست وینا وکړه، بیا افغان ژورنالیست او لیکوال ډاکټر ظاهر صدیق په انګلیسي ژبه په افغانستان کښې د خطاطۍ د هنر په باب یوه وینا وکړه. ورپسې د افغانستان د کلتوري ټولنې مشر ښاغلي محمد صدیق پسرلي ددې نندارتون په هکله او په افغانستان کښې د خطاطۍ او نقاشۍ د هنرونو په باب خبرې وکړې. په پای کښې د هیواد د علمي او روحاني شخصیت محترم سناتور غلام نبي چکنوري له خوا د پټې په پریکولو دغه هنري نندارتون پرانیستل شو.

دغه هنري نندارتون د دسمبر په ۱۲ او ۱۳ ورځ

هم د نندارچیانو پرمخ پرانستی و اوګڼ شمیر افغاني او بهرنیو هنر مینو یې نندارہ وکړه.

په نندارتون کښې د هیواد د دغو ښاغلو هنرمندانو د خطاطی، میناتوری، نقاشی او کندن کاری یو شمیر آثار نندارې ته وړاندې شوي وو: عبدالله حنیف، نعمت‌الله استاد هاشم، ویس الدین اوعبدالبصیر.

د نندارتون په جریان کښې پر علاقه مندانو هغه رساله هم وویشل شوه چې په افغانستان کښې د خطاطی هنر پۀ نوم د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا د «اریکا» په مرسته چاپ شوې وه.

---

* د افغانستان د کلتوري ټولنې له خوا د روان کال د جدي په لومړی نیټه (د ۱۹۹۰ ع کال د دسمبر ۲۲) د

افغانستان پر میرنې او مجاهد ملت د روس د پوځي یرغل یعنې د افغانستان د تاریخ د توریې ورځې (د جدی د شپږمې) د غندنې او د افغانستان د اتلو خلکو د میرنې جهاد د ستاینې په منظور د پیښور د اردو ساینس بورډ په کتابتون کښې یوه درنه ادبي غونډه او مشاعره جوړه شوې وه.

ددې غونډې مشر استاد یوسف آیینه او مشر میلمه یې ښاغلی امیر حسین فرهاد و. د ښاغلي عزیزی له خوا د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو تر تلاوت

وروسته د هیواد تکړه لیکوال او شاعر الحاج څیرنمل محمد عارف غروال د جدي د شپږمې پر افغانستان د روسانو دیرغل د یوولسم تلین او په افغانستان کې د

هغوی د بې شرمانه ماتې په باب یوه لنډه وینا وکړه او بیا یې د شاغلي امان الله نصرت شعر په همدغه مناسبت ولوست.

له دې وروسته یوه آزاده مشاعره وشوه چې دغو شاعرانو خپل شعرونه په کې ولوستل:

الحاج عبدالله غمخور، الحاج غلام فاروق چشتی، محمد صدیق پسرلی، حبیب الله رفیع، قمر الزمان قمر طایزی، ایت الله ختک، عبدالستار مخلص، حاجی حمید گل حمید، فریحان شیدا، گل محمد بیتاب، حاجی سردراز خان ختک، لیاقت خان لیاقت، گل محمد زهیر، امیر حسین فرهاد، شیر شاه ترخوی، داکټر اسرار، غلام حیدر حیدر، عصمت قانع، عبدالوهاب بریال، عبدالمتین تسکین، میرویس موج، امان الله ساهو او نور الحبیب نثار.

نی نامه

بشنو از نی چون حکایت میکند — از جدائی ها شکایت میکند
کز نیستان تا مرا ببریده اند — از نفیرم مرد و زن نالیده اند
سینه خواهم شرحه شرحه از فراق — تا بگویم شرح درد اشتیاق
هر کسی کو دور ماند از اصل خویش — باز جوید روزگار وصل خویش
آتش ست این بانگ نای و نیست باد — هر که این آتش ندارد نیست باد
آتش عشقست کاندر نی فتاد — جوشش عشقست کاندر می فتاد
نی حدیث راه پرخون میکند — قصه های عشق مجنون میکند

محرم این هوش جز بیهوش نیست
مر زبان را مشتری جز گوش نیست

(مولانا جلال الدین بلخی رحمة الله)

پکتها (پختون)، بهالانا (د بولان د دري اوسیدونکو) پورو (د براندوس او د گنداهارا شا او خوا سیمو او- سیدونکی خلک) شیوایان، (اندوس ته نژدې اوسیدونکي خلک) ویشانن، انو او نورو آریایي قبیلو سره ځنګ په ځنګ اوسیدل.

دوی د هندوکش په جنوب کې هم د نورو، آریایي قبیلو په ټیره بیا پکتها سره نیږدې ژوند ټیر کړیدی، ځکه چې د پکتها قبیله هم دالینا قبیلې نه چې د هندوکش د جنوبي لمنو په دروکې ځای په ځای وه، را- ټیر او د سپیتاګرې (سپین غر) په شا او خوا ځای په ځای شول. د دې دوار و ګاونډ یو قبیلو دژوند طبیعي محیط، د غرونو او ځنګلونو د لرونکو سیمو خوښونه او نور فرهنګي شته اثار د دوی د تاریخي نزدیوالي ثبوت دی. او هم لاس ته راغلي اسناد ښیي چې دالینا قبیلې خلکو پخوا د اوسني جلال آباد سیمې ته نژدې ځایونو کې ژوند کاوه، چې دغه ښار د سپین غر په لمن کې پروت دی.

آریایي قبیلو د هندوکش په جنوب کې هم په مالداري شپې سبا کولې او له کرکیلې سره یې هم چې په بخدې کې یې کوله مینه ښودله. افغانستان ته د سکندر تر راتګه پورې، د دې خلکو د مالداري په ځنګ کې له کرکیلې سره مینه زیاته شویده او په نتیجه کې کرنې د پخوا په نسبت ښه وده کړې وه.

SPEDE

Bi-Monthly
Literary and cultural Publication
November - December 1990



Second Cycle
Vol. 1, No. 4
Serial No. 25

افغانستان ته د سکندر تر راتګه پورې د پخوانې الینا د قبیلې د خلکو په شمول د نورو آریائیانو په اړوند زیات معلومات نشته خو کله چې سکندر افغانستان ته را ورسید، له هغه سره د افغانستان د خلکو جنګونه ددې سبب شول چې د هغه وړخې آریانا (افغانستان) د بیلا بیلو سیمو په اړوند د یوناني آثارو له لارې څه معلومات موږته را پاتې شي.

مقدوني سکندر چې د هندوستان د فتح له پاره له یونانه په ۳۳۴ ق. م کې له دیر شوزرو پلیو او پنځوسو زرو سپرو لښکرو سره ختیځ ته را روان شوی ؤ، په پای کې زمور هیواد ته راورسید او له دیرو سرخوړیو وروسته د کونړ درې ته ورسید.

د تاریخې لیکنو له مخې سکندر د کونړ په دره کې د الینا خلکو یعنې د ننني نورستانیانو له پخوانیو نیکو نو سره مخامخ شو چې پدې دره کې میشته وو. «حیات افغانی» د پخواني نورستان په اړوند لیکلي دي: داسې معلومیږي چې پخوا د درهٔ نور او د هندوکش او کابل د نورو د رو او آن د جلال آباد تر جنوب پورې د کافرو قوم (نورستانیان) ؤ لکه چې د کامې، ګوشتې، راجګل، د جلال آباد او خیبر په شا او خوا کې نور پخواني نومونه ددې شاهد دي او څه وخت چې مسلمانان په دوی غالب شول، هغوی شمالي خوا ته په شالارل.

(۲)

همدارنګه په «تاریخ خورشید جهان» کې راغلي: هغوی (نورستانیان) وایي چې هغوی مسلمانانو د اسلام دراتلو په وخت کې له قندهاره (ګندهارا) نه شرلي او ورو ورو شمال ختیځ ته یعنې د کونړ درې ته تللي دي (۳).

له همدغو تاریخي لیکنو څخه جوتیږي چې افغانستان ته د سکندر د راتګ په زمانه کې الینایان یعنې د اوسنۍ نورستانیانو نیکو نه په دیره پراخه ساحه کې یعنې د کونړ له سر درو څخه د جلال‌آباد تر شا او خوا پورې میشته وو.

وایي چې سکندر دنیسا Nysa په ښار کې خبر ترلاسه کړ چې د کونړ، اسمار، باجور اوسوات او نور خلک چې د دغې سیمې په درو او غرونو کې ژوند کوي، د چاتر لاس لاندې ندي او هر څوک چې وغواړي هغوی د ځان تابع کړي، د هغه په سر تندر داسمان دی. (٤)

د تاریخي لیکنو له مخې څه وخت چې سکندر دنیسا ښار ته ورسید، د پخواني نورستان خلکو ته یې خپل یو استازی ولیږه او له هغوی څخه یې وغوښتل چې هغه ته هند ته د تیریدو لار ورکړي. د نورستان خلکو په ځواب کې ورته وویل: داد «د یوتس» رب النوع وطن دی او غیر له هغه څخه بل څوک په دې وطن د مالک حق نلري. دلته یوازې ځیري او د هومابوتې شنه کیږي

او د پردو له پاره زموږ په هیواد کې لاره نشته.

سکندر له ملګرو سره یې غرني نورستان ته لاړ او د هو ما (۵) سیمه پیزوشرابو له ځښلو وروسته مست او بیهوش او د دغې سیمې له نیولو څخه تیر شو او هغوی یې ازاد پریښودل (٦) د نیسا د ښار موقعیت روښانه نه دی خود هیواد په خټیځ کې د دغه ښار شتوالی رښتینی دی. د هیواد نومیالی مؤرخ احمد علی کهزاد د دغه ښار په اړوند لیکلي دي: ځینې پوهان وایي د د یو نیزوس ښار (دنیسا ښار د دیو نیزوس د رب النوع د ښار په نامه هم یا دیده) (۷).

یا په لغمان او یا د هدې په شا او خوا او یا د کونړ* د دري په منځنۍ برخه کې و. په هر ځای کې چې وو، دا دري واړه سیمې د هیواد په خټیځ کې پرتې دي.

* د کونړ دري نوم نورستاني ریشه لري چې په نورستاني ژبه کې دغه نوم د زیتون د دري په معنی دی. د کونړ Kunr په نوم کې د (ړ) توري د انګلیسي (ار) حرف په شکل تلفظ کیږي. څه وخت چې نورستانیان له دې دري څخه په شاشول نو دغه دره د کونړ په نوم مشهوره شوه. که چیرې لفظي جوړښت ته بیاهم وکتل شي اخري حرف چې (ر) دې ځرنګه چې تلفظ یې په اصلي شکل مشکل وونو په (ړ) تبدیل شویدی. پدې ترتیب کونړ په کونړ اوښتی دی. و. گوریء: ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان مخ ۱۵۹.

فیض الله مخلص

نبوي احادیث

عن ابی موسی (رض) قال قال رسول الله «صلی الله علیه وسلم» اطعموا الجایع وعودواالمریض وفکوا العافی «رواه البخاری»

ترجمه:- له حضرت ابی هریره (رض) څخه روایت دی وی ویل - رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: وږی ته خواړه ورکړئ او د رنځور عیادت وکړئ او بندي له بنده آزاد کړئ.

لنده شرحه:-

په پورتني مبارک حدیث شریف کې مؤمن په دریو اخلاقي عملونو مأمور شویدی - هغه اعمال چې د محبت او خواخوږی، نوع دوستی او ورو رګلوی شیرازې ټینګوي او مؤمن ته په ټولنه کې دیوه واقعي محسن حیثیت ورکولای شي. که ددې عملونو ټولنیزې برخې ته په غور سره وکتل شي، دریشتني مؤمن لپاره به په ټولنه کې تر

برسیره پردې دسبزه پیچان او پیچک بوټی د نورستان په غرونو کې زیات شنه کیږي او هم پوهیږو چې د شرابو څښل د نورستان د خلکو په منځ کې له اسلام نه د مخه ډیر معمول وو، له احتمال نه لیرې نده چې سکندر دنیسا د ښار له رئیس سره له کتلو وروسته د (بکوس)د بري یوناني (رب النوع په احترام) د هغه ښار د نیولو څخه ټیر شوی وي. (۸).

دا د نیسا د ښار د خلکو سره د مقدوني سکندر چال چلندوو چې د تاریخي لیکنو په استناد په غالب ګمان د هغه ښار او سیدونکي هم پخواني نورستانیان وو. خو د پخواني نورستان د نورو برخو په وړاندې د سکندر چلند دارنګه نرم نه وَ.

فرانسوي پوه فوشه پدې باوردی، کله چې سکندر دنیسا ښار جوړکړ او د بري د یونانی رب النوع په نوم یې ونو ماوه او د دغه رب النوع په نوم یې قرباني ورکړه (۹)، د نیسا په ښار کې چې د اوسني نورستان د واورینو غرونو بیخ ته پروت و، خپل لښکر یې په دوو ډلو وویشه. داسې اټکل کیږي چې سکندر تراسمار پورې په جنګ او مقابله تللی، د انګام (۱۰) او له هغه ځایه جندول او سوات ته د کونړ سیند څخه ټیر شویدي او دا احتمال هم شته چې له اندراج څخه باجور ته اوړیدلی وي. (۱۱)

ډنمارکي محقق ایدلبرګ پدې باوردی چې سکندر

په چغه سرای کې د نورستانیانو د دغو غرنیو اریائیانو د نڅاو، پهلوانۍ او شرابو څښلو مجلسونو او محفلونو د لیدو څخه حیران شویدی. همدارنګه اید لبرګ زیاتوی: ښایي ستر سکندر د کونړ له دري څخه د تیریدو په وخت په چغه سرای کې د نورستانیانو ستر کلی او یا یوې ستري جنګي کلاته اور اچولی وی. دی وایي داسې ګمان کیږي چې د سکندر په زمانه کښې هم د چغان په ټهه کې چې د یوې جنګي کلا له پاره مناسبه نقطه بریښي مهمه جنګي کلا وه او د نورستانیانو نیکونو دوه زره څلور سوه کاله پخوا له سکندر سره پدې سیمه کې جګړه کړیده. تر څو چې د مقاومت مرکز یې وسوځول شو (۱۲) سکندر له هغه وروسته چې د نورستانیانو د پخوا نیونیکونو مقاومت یې مات کړ داسمار له شا او خوا څخه سوات او بونیر ته تیرشویدی. (۱۳)

تر هغه زمانې پورې چې بابر په ۹۲۰هـ کال کې کونړ ته لاړ، په چغه سرای ته څیرمه کلیو کې نورستانیان اوسیدل، په خپله بابر لیکلي څه وخت چې زه چغانسرای ته ورسیدم، چغانسرای یو کلی وو چې د هغه ساحه محدوده وه او دکافرستان په دهانه کې موقعیت لري، ګرچې اوسیدونکي یې مسلمانان دی خوله کافروسره ګډدی او د کافرو په شان ژوند‌او کړه وړه لري. کله چې ما چغانسرای ونیر د پیچ(ډنډري پخوانی او اصلي نوم پریج دی چې دهغه د ډیرو پخوانیو

اوسیدونکو خلکو له نامه څخه اخستل شویدی چې وروسته دغه نوم په «پیچ» او اوس یې د «پیچ» په شکل تغییر موندلی دی نوګورئ: ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان مخ ۱٦۱) نورستانیان د دغو خلکو کومک ته راغلی وو (۱٤)

هدارنګه په تاج التواریخ کې راغلی چې د کونړ او داوسني لغمان زیاتی ځمکی او په پنجشیر، لغمان او جلال آبادکښې زیاتې سیمې په پخوازمانه کې د نورستانیانو وې (۱۵)

پروفیسور دوپری د اوسنیو نورستانیانو د افسانو له مخې لیکي چې سکندر هغه وخت چې د سوات په نیت یې حرکت وکړ د نورستان له جنګیالو سره مخامخ شو، هغوی د سکندر پوځ ته څو څو خله ماته ورکړه او په شا تګ ته یې مجبور کړیدي تر څو چې سکندر په پای کې له زرو څخه تر دوو زرو تنو پورې له دغو جنګیالو څخه په خپل پوځ کښې د هنددنیولوپه خاطر شامل کړل (۱٦) له سکندر څخه وروسته په آریانا کې د یونانو باختر حکمروایان رامنځ ته شول. پدې زمانه کې د بوسورت په خوله پخوانی نورستان د میلاد څخه د مخه ښایی د پاراپامیزاد دولایت یوه برخه وه چې خلک یې د کموج یا کمیجي په نامه یادیدل. دده په خوله د میلاد په لومړیو وختو کې د نورستان ساحه د کوشاني سلطنت کې سره بودایي ایالت پورې تړل شوید ۵ (۱۷)

همدارنګه د يو چيني په ليکنه کښې راغلي چې د تاهيا منطقه پر پنځو ولايتونو ويشل شوې وه چې هر يو يې د يو رئيس او يا حاکم لخوا اداره کيده او پدې ترتيب دواخان، بدخشان، باختر، نورستان ، پروان او کابل ديوه تن يو چې تر قيادت لاندې وو (۱۸).

د ځلورمې ميلادي پيړۍ په پای او د پنځمې ميلادی پيړۍ په پيل کښې د کوشانيانو يوه ډله د کيداريانو په نامه شهرت او قدرت ته ورسيدل چې هغوی پرګند هارا او کشمير باندې حکومت درلود (۱۹)

په اسلامي انسايکلو پيديا کې راغلي چې نورستان د مسيحيت په لومړيو وختو کښې د کوشاني سلطنت يوه برخه وه چې دغه سلطنت د کاپيسا ټوله غرنۍ سيمه نيولې وه او همدارنګه دکتور نوم چې تيمور هغه نورستانيانو دپاره استعمال کړ، بې له شکه دغه د«کته» نوم دی چې د نورستانيانو اصلي قبيله شميرل کيږي، چې اصلا داکلمه له کيدارا څخه چې د وروستنو کوشانيانو د حکمرانانو لقب دی اخيستل شويده.

دغه راز انګليسي محقق (يول) په انسايکلوپيديا بريتانيکا کښې نورستان دهغه سلطنت يوه برخه بولي، چې په پخوانۍ زمانه کې د کابل او کشمير تر منځ واقع وو او د منځنيو پيړيو آسيائيانو هغه هيواد د بلور په نامه ياداوه. (۲۰)

د دغو کيداريانو يوه سلسله د کابل شاها نو په

نوم قدرت ته ورسیده چې مرکزیې په کاپیسا کښې ؤ کله چې د کاپیسا سلطنت د عربو له خوا له منځه یوورل شو، د هغوی مرکز کابل او له هغه وروسته ختیځ خواته لاړل. (٢١)

د کیمبرج هستری آف انډیا په (٥٥٥) مخ کې راغلې چې نورستان په هغه وخت کې چې چینې سیاح هیوان تسانګ په (٦٣٠) میلادی کال کې هغه وکوت، د هغه مقتدر دولت یوه برخه وه چې د غوربند او د پنجشیر وادی پکې هم شامله وه او په عمومې دول د کاپیسا په نوم یادید. (٢٢)

د البیروني په قول د کابل شاهانو وروستنی پادشاه (لکتورمان) او یا (کتورمان) وو. هو د یوالاد البیروني (کتورمان) ځیرلی او هغه یې له کتور سره تړلی دی چې د پخواني نورستان نوم دی. ستوارت الفنستن په خپل کتاب کې لیکلي چې د چترال او ګلګت حکمرانان اوس هم خپل ځان د (کتور) پادشاهان بولي. د تقویم البلدان لیکونکی د (کتور) ولایت د شاهپوشانو سیمه بولي، چې همهغه نورستانیان دي. (٢٣)

پدې دول جو تیږي چې پخوانی نورستان د کابل شاهانو د سلطنت یوه برخه وه او دهغه حکومت په تشکیل او برخلیک کې یې د بحث ور رول لاره. (٢٤)

لکه څنګه چې وویل شو، پخوانی نورستان په منځنیو پیریو کې د هغه سلطنت یوه برخه جوړوله چې

بلورستان نومیده. په همدې اړوند بیلو لیکې: بلورستان له کافرستان (نورستان) چترال، یسین، ګلګت او سکاردو څخه عبارت دی او د محمد حیدر په حواله لیکي چې بلورستان د هغه مملکت نوم دی چې شمال ته یې د کابل وادی او ختیځ ته یې له کشمیر سره پوله لرله، چې یارکنداو کاشغر هم دهغه متعلق وو. (۲۵)

استاد عبدالحی حبیبی د (بلور) ولایت د خراسان یو ولایت بللی او دهغه په معرفی کې د چینې سیاح هیوان تسانګ له لیکنو څخه رانقلوي چې (بلور) د (پو-هو- لو) په نوم یادیده. د غرونو په منځ کې واقع و او عبارت دی له نورستان، چترال، چیلاس، ترهونزا او کشمیر پورې چې خلکو یې وړین کالي اغوستل او هوایې ډیره سره وه. (۲۶)

په هر حال د (بلورستان) د هیواد جنوبی پوله جلال آباد ته نژدې سیموته رسیده. (۲۷) داسې اټکل کیږي، کله چې د کابل شاهانو مرکز په کاپیسا کې د عربو په لاس فتح شو، وروسته له هغه نه د نورستان سیمه چې د پاراپامیزاد د ولایت یوه برخه وه خپلواکه پا ته شوې ده او ددې سیمې خلکو په مستقله توګه له خپله ځانه دفاع کړیده. کله چې پر بلورستان باندې د مسلمانانو ۰فشار ورو ورو مخ په زیاتیدو شو او زیاتره سیمې یې د مسلمانانو په لاس فتح شوې او خلکو یې داسلام سپیڅلی دین قبول کړ د پخواني نورستان خلکو د

فرهنګي او ژبني يووالی پر بنا د اسلام له منلو څخه وړه وکړه. اسلام ته د رابللو په خاطر ډيرو پادشاهانو او اميرانو او خانانو پر نورستان باندې منظم او کله ګوريلا يې چپاو وروړيدی، خو د نورستان خلکو په دغه تقريباً يوزراو دوه سوه کالو کې وکړای شول له خپله ځان او سيمې څخه دفاع وکړي، خو دپخوانی نورستان زياته برخه ددې اوږدې مودې په جريان کې د مسلمانانو له خوا فتح او خلک يې مسلمانان شول چې اوس يې يا خپله نسبي سلسله ورکه کړې او يا هم اوس خپل ځان نور نورستانيان نه بولي، لکه څنګه چې «تاريخ خورشيد جهان» او ستوارت الفنستن ليکلی: د هغوی درې قبيلې دهلار، تيلار او کاموزپه نومونو مسلمانان شويدي.

په افغانستان کې د اسلام د مقدس دين په پياورتوب سره د نورستان له پر اختيا څخه ورو ورو کميده، تر څو چې ديوه جغرافيايی واحد په توګه خپلو- اکه پاتی شو چې ددغې سيمې پراختيا په هغه وخت کې دارنګه ښودل شويده:

د کافروقوم (نورستانيانو) سيمه د ختيځ له لورې له قاشقار او شمال خوا په بدخشان، د لوديځ له خوانه اندراب، خوست او کوهستان او له جنوب خوانه په باجور او لغمان محدود شويدی. (۲۸)

سلطان محمود هغه لومړنی مسلمان پادشاه وو چې اسلام ته د نورستان د خلکو رابللو په خاطر هغه سيمې

ته په ٤١١هـ ق ـ ١٠٢٠ میلادي کې خپل لښکر ولیږه او ویې کړای شول چې یوازې د پخوانې نورستان دوه کلي د (نور) اوقیرات په نومونو مسلمانان کړې چې یو یې د محمود د لښکرو له تګ وروسته بیرته پخواني دین ته واوښت او دهغه بل کلي په اړوند هم کوم نور معلومات نشته. (۲۹)

د طبقات اکبري او تاریخ مسعودي په قول، د سلطان محمود غزنوي د لښکرو په ډله کې د کتور (نورستان) خلک هم شامل وو چې مشري یې د هندو (تلک) په غاړه وه. (۳۰)

امیر تیمور دویم مسلمان پادشاه دی چې داندراب د خلکو د شکایت په اثر اسلام ته د نورستان د خلکو اړولو لپاره د نورستان پر غربي برخه باندې یې په کال ۸۰۰ هـ ق ۱۳۹۸ م کې یرغل وکړ. نوموړی پادشاه هم د مړوله سرونو څخه منار جوړ کړ خو بری یې تر لاسه نکړ. ده د خپلو بې دوامه فتوحاتو یادګار د نورستان د پچاپه کلي کې په یوه تیږه ولیکه. (۳۱)

له تیمور وروسته ظهیرالدین محمد بابر هم له پخواني نورستان سره په تماس کې شوی دی. که څه هم له نورستانیانو سره د نوموړي پادشاه د جنګ په اړوند کوم اسنادپه لاس کښې نشته خو هغه په ۹۳۰ کال کښې چغانسرای ته تللی او د نورستان خلک یې لیدلي او له هغو سره په تماس کې شویدی او له هغه ځایه د بیرته

راتګ په وخت کې یې د هغو شرابو تحفه ترلاسه کړه چې دوه زره کاله مخکې سکندر د هغه په څښلو مست او بیهوشه شوی و. (۳۲)

میر غلام محمد غبار هم په همدې اړوند لیکلي وو: بابر په شپارسمه پیړۍ کې نه یوازې چترال او نورستان د کافرستان په نوم یادکړل. بلکه چغانسرای یې د کافرستان جز بللی دی. (۳٤)

د بابر اولادو په تیره بیا جلال الدین اکبر خپل لښکر د کتور کافرانو (نورستانیانو) پرضد، لغمان ته واستول. همدارنګه د جلال الدین اکبر ورور حکیم میرزا چې د کابل پادشاه وُ، هم د نورستان لویدیځې برخې ته خپل عسکر ولیږل، چې دهغه بیان د درویش محمد خان غازي په جنګنامه کې راغلی دی چې په کال ۹۹۰هـ ق کښې د دغه جنګ جریان په مفصله توګه د شپږ شپیتو دروکافرانو په نوم ولیکه.برسیره پر د غوشاهانو د بدخشان شهزادګانو او دآمولې سیند څخه د پورې غاړې سیمو شهزادګانو او هم د سیمې مذهبي خلکو او خانانو د نورستان په خلکو چپاو ور وړیدی خو نورستانیانو د ټولو په وړاندې مقاومت وکړ.

په نولسمه پیړۍ کې په ملي او نړیوالو حالاتو کې بدلون راغی او امیر عبدالرحمان خان د سیمې د پوځي او سیاسي شرایطو په تحلیل په ۱۸۹۵ میلادی کال کې په یو وخت کې له څلوروخواؤ په نورستان حمله وکړه، چې

له شپږو میاشتو وسله والو نښتو وروسته نورستان د امیر د لښکروله خواونیول شو او دغه سیمه چې پخوا د کافرستان په نوم مشهوره وه، نورستان ونومول شوه.

د ځینو سرچینو د معلوماتو له مخې، د امیر له خوا د نورستان د نیولو موضوع یونیم کال، خو د نورستان د سپین ږیرو په قول څو کاله دوام ومونده. نومورې امیر د نورستان نیولو او اسلام ته د نورستانیانو له راباللو څخه نه یوازې د افغانستان په سیاسي جوړښت کښې، بلکې دننه په هیواد کښې هم سیاسي او مذهبي ستره ګټه واخیسته او په همدې ترتیب یې ځان ضیاءالملة والدین ملقب کړ. (۳۵)

د نورستان د مسلمانولو ورځ دامیر حبیب الله خان دسلطنت ترپایه پورې د ملي یووالی دورځې په نامه نمانځل کیده.

په لنده توګه د نورستان خلک دالینایانو، داردیانو، بلور، کموج یا کمیجی، کتور او د سیاهپوش او سفیدپوش، کافرو او په پای کې د نورستانیانو په نامه او د هغوی سیمه، اریانا پارا پامیزاد، داردستان، بلورستان، کتور، کافرستان اوبالاخره د نورستان په نوم پیژندل شویدی. (۳۶)

لنده داچې د نورستان خلک په خپله اصیل او لرغونی آریائیان دي چې د نژاد پیژندنې له مخې ورته هوموالپینوس یا غرنی اریائیان ویل شویدي. ځرنګه چې

هغه عالي معنوي نسخه تر لاسه نشي.

کله چې خواخوږی مؤمن ويني يو بيوزلی انسان چې د بيوسۍ طوفان بيوسه کړی، لوږې تندې يې ژوندلهٔ تباهۍ سره مخامخ کړی دی؛نو د همت ليڅې ورتومبې او دا د ځان مسئوليت ګڼي چې هغه محتاج انسان ته لهٔ کوم نعمته چې خدای (جل جلاله) ورکړی ځهٔ ورکړي. د فقهي حکم لهٔ نظره، د خدای (ج) وړې بنده ته خواړه ورکول سنت دي، پهٔ دې شرط چې وړی لهٔ لوږې د ناتوانۍ او اضطرار حال ته نهٔ وي رسيدلی او که د اضطرار حال ته ورسيږي،بيا صورت کې خواړهٔ ورکول پهٔ مؤمن بنده فرض دي.

د مؤمن بنده مسئوليت پهٔ دوهم امر کې د هغه ناتوانه ناروغ پهٔ هغله دي چې روغمنه نيب د ناروغۍ لهٔ امله ناويسا او د ناروغۍ پهٔ بستر کې پروت وي. داسې انسان پهٔ طبيعي ډول د نورو انسانانو خواخوږی او همدردی ته اړتيا لري.

اسلامی شريعت د ټولنی د اخلاقي معيار د لوړتيا لپاره امر کړی،چې د ناروغ پهٔ تپوس د ورور ګلوی، اړيکې را تينګې او د همدردی احساس د يوې وظيفې پهٔ بڼه د مؤمن پهٔ زړه کې ژوندی وساتي، نو د يوهٔ شرعي حکم پهٔ صورت يې د ناروغ پوښتنه پر مسلمانانو لازمه کړه،چې ددې سنت پهٔ احياء سره مؤمن بنده پخپل چاپيريال کې د هر چا پهٔ زړونو کې د قدر او منزلت

د نورستان خلک له ډیرو پخوازمانو راهیسې په آریانا او بیا وروسته په افغانستان کې اوسیدلي دي. نو له دې کبله دوی هم د افغانستان د خاوری اصیل اوسیدونکي او بچیان دي.

د پخوانیو ځینو غیر علمي روایاتو له مخې، د نورستان خلک د هغوی د ټولنیزو کړو وړو پر بنیاد کله یونانیان او کله عرب بلل شویدي. پداسې حال کې چې ټولنپیژندونکو او ژب پوهانو د اسکلټ پیژندنې او دژبې له ځیرنې وروسته د نورستان د خلکو اریائیتوب کاملاً ثابت کړیدی.

کله چې د بلورستان سیمه تجزیه اوهرې خواته داسلام مبارک دین په خپریدوشو، نو د نورستان خلکو د دغه دین له منلو ځخه ډډه وکړه له دې کبله د هغو اوږدو کلونو له جنګونو وروسته چې تقریباً یو زر دوه سوه کاله یې دوام ومونده، د پخوانې نورستان خلک د ګاونډیو مسلمانو خلکو له خوا په کافرو او سیمه یې د کافرستان په نوم مشهوره شوه.

دا باید وویل شي چې د نورستان خلکو د هماغه آریایانو له وخت ځخه د هیواد په ټولو پیښوکې ځانته وندې او رول په غاړه اخستی او د اسلام له منلو وروسته هم ډیر معتقد مسلمانان شول، لکه ځنګه چې تر ډیرو پورې یې اسلام ونه مانه، نو اوس به هم انشاء الله دنړی تراخرې ورځې پورې دوی سپیڅلي او معتقد

مسلمانان اوسي.

لکه هماغسي چې د نورستان دوایګل دسیمې خلکو د ۱۳۵۷ کال د جوزا د میاشتې په لومړۍ نیټه په افغانستان کې په قدرت باندې د کمونستانو د خیټې اچونې پر ضد په لومړني پاڅون او د اسلامي جهاد په لاره کې د لومړیو شهیدانو په ورکولو سره د اسلامي جهاد مقدسه دیوه بله کړه او د افغانستان مسلمانانو وروڼو خلکو هغه لاپسې ځلانده او رپانده کړه، همداسې په راتلونکې کې به هم داسلام څخه ددفاع او د هیواد په ساتنه کې هماغه شان مخکښ اوسي.

مأخذونه :

۱. پدې اړوند وګورئ: د افغانستان تاریخ، احمد علي کهزاد، لومړی ټوک، کابل، ۱۳۲۵، ۷۴، ۸۳، ۸۹ مخونه. رهنماي افغانستان مخ ۲۹. د پښتو ادبیاتو تاریخ، عبدالحي حبیبي، لومړی ټوک، ۴۱-۴۳ مخونه - کیمبرج هستري اف انډیا، لومړی ټوک، ۸۲ مخ.

۲. وګورئ: حیات افغاني، د ظریفي او طالبي ژباړه ګستتنر، کابل، ۱۳۶۲، ۶۸۳ مخ، د پښتنو تاریخ، ځلورم ټوک، عطاءالله خان ۳۲ مخ.

۳. وګورئ: تاریخ خورشید جهان، شیر محمد ګنداپوري ابراهیم زی، لاهور، ۳۱۷ مخ.

۴. سالنامه افغانستان، ۱۳۱۴ نګاهي به افغانستان قدیم، ۱۵۳ مخ.

۵- پخوانیو نورستانیانو هم د پخوانیو اریائیانو په دود د هوماله بوتي څخه یو دول شراب چې د هوما په نوم یادیده جوړول او هغه یې په مذهبي جشنونو، اخترونو او د خوشالیو په ورځو او شپو کې خوړل، خو ورسته یې دغه شراب له انګورو څخه جوړول.

6. Dupree Nance Hatch. An historical guide of Afghanistan Kabul 1971 - P 168.

۷- وګوری. ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان، سمیع الله تازه، کابل ۳۸۳۵ مخونه.

۸- تاریخ افغانستان، لومړی ټوک، کهزاد، ۱۶۰ مخ.

۹- افغانستان در پرتو تاریخ، کهزاد، (۱۶۰ - ۱۶۱) مخونه.

۱۰- د دانګام د کلي نوم هم نورستاني ریښه لري چې اصلي شکل یې (داګژ ام) دی چې د غرني کلي په معنی دی. د (داګژ ام) په نوم کې د (ژ) توری د انګیسی ژبی په امریکایی لهجه کی د (آر) د غږ په څیر تلفظ کیږی.

۱۱- از سروبی تااسمار، کهزاد، کابل ۱۳۳۳، ۱۵۷ مخونه.

۱۲- افغانستان دپرتو تاریخ، کهزاد، (۳۷٤) مخ.

۱۳- افغانستان در پرتو تاریخ ۵٦۰ مخ.

۱٤- تزک بابری، به اهتمام اقامیرزا محمد ملک شیرازی ۸۵ مخ.

۱۵- وگورئ: ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان. ۳۲ مخ.
۱۶- تاریخ محلی کلا شوم نورستان. محمد علم میله بار، اریانا مجله، ۳۲ مخ، ۱۳۵۷.
۱۷- کابل و نورستان، ترجمه سدید ـ ادب مجله، ۱، ۱۳۵۵.
۱۸- افغانستان درشاهنامه، کهزاد، مخ ۲۳۹ـ۲۴۰.
۱۹- هند در تحت تسلط کوشانیان، ترجمه ضمیر صافی، مخ ۱۹۰.
۲۰- اریانا دایرة المعارف شپږم جلد، ۳۳۳ مخ.
۲۱- وگورئ: ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان، ۴۶ـ۴۷ مخونه.
۲۲- اریانا دایرة المعارف شپږم جلد ۳۳۳ مخ.
۲۳- تاریخ افغانستان بعد از اسلام، عبدالحی حبیبی، ۷۷ـ۸۷۶ مخونه.
۲۴- وگورئ. ریشه های تاریخی فرهنگی نورستان ۴۸ مخ.
۲۵- افغانستان ونگاهی بتاریخ آن، میر غلام محمد غبار، کابل مجله، ۱۲، ۱۳۱۱.
۲۶- تاریخ افغانستان بعد از اسلام، جلد اول، عبدالحی حبیبی مخونه ۴۴۸ او ۴۵۰.
۲۷- وگوری عبدالحی حبیبی د جغرافیا مجله ۱، ۱۳۴۷.
۲۸- تاریخ سیاسی افغانستان، سید مهدی فرخ ۳۵ مخ.
۲۹- وگورئ: د ریښه های تاریخی و فرهنگی نورستان

۷٤ مخ.
۳۰ـ تاریخ افغانستان بعد از اسلام حبیبی ۸٦ مخ.
۳۱ـ احمد علی کهزاد، مجله ژوندون ۳۷، ۱۳۳٤.
۳۲ـ وگوریځ، کابل، نورستان، مجله ادب ۱، ۱۳۵۵.
۳۳ـ میر غلام محمد غبار د کابل مجله ۱۲، ۱۳۱۱.
۳٤ـ وگوریځ بالاحصار وپیش آمدهای تاریخی، کهزاد جلد ۲ مخ ۲۲۰ـ ۲۲۲.
۳۵ـ وگوریځ: ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان مخ ۹۲.
۳٦ـ وگوریځ: ریشه های تاریخی و فرهنگی نورستان مخ ٤۹.

م. صمد پور

سنگرستان

نقشی از حماسه ها

«سنگرستان» مجموعهٔ حماسه ها ست که از خامهٔ توانای شاعر مجاهد کشور مولوی محمد حنیف حنیف بلخی تراویده است. این مجموعه باقطع و صحافت بسیار زیبا در یک هزار نسخه در اسد سال ۱۳۶۹ هجری خورشیدی به اهتمام ثمر الدین ثامر به طبع رسیده است. دفتر شعر باتقریظهایی از نصری حقشناس و محمد یوسف آیینه همراهست که مجموعاً ۱۵ صفحه را

در برمیگیرد. هم چنان سخنانی از سرایشگر نیز به عنوان پیشگفتار، ۸ صفحه کتاب را آذین بسته است. ٤١١ صفحه مجموعه به شعرها اختصاص دارد و در اخیر از الحاج هدایت الله باستان خلمی به خاطر پرداخت مصارف چاپ کتاب سپاسگزاری شده است.

پیش از آنکه در رواق روشن برخی از بیتها درنگ کنیم، قسمتهایی از تقریظها را به رنگ نمونه می آوریم تانظر صاحبنظران را دربارهٔ این مجموعه و گوینده اش دریا بیم.

حقشناس در بخشی از گفته های خویش اظهار داشته است: «مولوی صاحب اغلب کوشیده است تا آیینه دار رنجها و دردها و آلام جامعه و مردم خود باشد، علم و هنر و استعدادش را در خدمت مردم به کار برد و در دری را در پای این و آن نریزد.

جای شک نیست که جناب مولوی صاحب، شخص فقیه و دانشمندیست، و این امر خواه ناخواه در شعرش اثر گذاشته و آن را روح و رنگ داده است. لیکن محیط هجرت، فاجعهٔ وطن، درد و داغ آوارگی و احساس رسالت و مسؤولیت، کلام او را پر محتواتر و ارجمند تر و پخته تر ساخته و صفیر قلم و صدای قلبش را رساتر و گیراتر کرده است. صورخیال در شعر مولوی صاحب تجلی دیگر دارد و دقت وژرف نگریش کیفیت دیگر.

اشعار مولوی صاحب عمدتاً طبیعی، روان، بی تکلف و در عین حال سخت استادانه است. کلمات غریب و نامانوس در آن راه ندارد از تعقید لفظی و معنوی مبراست.»

همچنان استاد محمد یوسف آیینه دربارهٔ این اثر و سرایشگر آن در جایی نوشته است: «سنگرستان مجموعهٔ حماسه ها، اثر اخیر استاد محمد حنیف «حنیف بلخی» شاعر و نویسنده کثیر التألیف معاصر در عالم مهاجرت نیز یادگار و کارنامه حماسی و فخریه گویی دورهٔ اشغالی نامردانه و سلاخی روسهاست که برهیچ چیز ابقاء نکردند.

قصاید، قطعات، ترجیع، رباعیات و دو بیتیها، ترانه ها وغیره اشکال شعر در ورقهای آن، خواننده را به سحر هنری و جاذبه و شور آفرینی سخن مینوازد.

استاد برای معانی، الفاظ مناسب از قدیم و نویافته، طوری معانی و مفاهیم شعری را در قالب الفاظ ریخته که توگویی دینا میزمی در کلمات رخ داده و شعر جان گرفته میجنبد.

احساس و عواطف و درک شاعر بانهایت قدرت، موضوعات مختلف را برای هدف خاص به کار برده و حماسه های سنگرستان را به وجود آورده که زهی هنرمند پا تریوتیست حماسه سرای معاصر هموطن». اکنون از چکیده های ناب احساس شاعر، قطره های

روشن برخی از بیتها را باچشم دل مینگریم و با لبان جان مزه مزه میکنیم.

مولوی حنیف آزادی را میستاید و نیز آن کسی را که برای آزادی میهن سربرکف و جان برلب، استوار میایستد، مایهٔ ناز و فخر و مباهات میداند واین گونه میسراید:

آن مرد که باسر بخرد نام وطن را
آزادی و آبـادی ایـن ملک کهن را
مـا، مـایـهٔ صد نـاز بدانیم حنیفا
آن برهنه پا، آن یل زنجیر شکن را

او آزادی کشورش را میخواهد و برای به دست آوردن آن، خون خویش را میریزد و خاک آن را چون شفق گلگون میخواهد و این گونه فریاد میدارد:

در بهـارستـان آزادی بـه خـون پاک خود
چون شفق دامان خاک خویش گلگون میتوان

و جشن آزادی را این گونه تجلیل میکند:

از بـرای جشـن آزادی بـه خون خویشتن
میهن زیبای خود را سخت آذین کرده ایم

حنیف بلخی، همیشه در سایهٔ جهاد، در سنگر فرهنگی جهاد، برصد دژ خیمان رزمیده است. او که در گفته هایش، سخن از جهاد و مقاومت ملت افغانست، چنین فریاد میدارد:

برون نمیروم از سایه جهاد هرگز

که عقل در گرو دختر همین تاک است

مولوی حنیف جهاد را مایه رستگاری مسلمانان کشور در دنیا و آخرت میداند و در شرایط امروزهٔ کشور، آن را از هزامری نیکو میداند ونداسر میدهد:

از کتاب زندگی امروز ما را زان حنیف

بیت زیبای غزا خوش انتخاب افتاده است

او جهاد را از صد بیستون در درگاه محبت برتر میشمارد و چنین داد سخن میدهد:

در ادبگاه محبت بهتر از صد بیستون

یک خم پرجوش و داغ سنگرستان جهاد

او ضمن ستایش پاسدار سنگر، دین اورا در برابر کشورش چنین آشکار میسازد:

پاسدار دین و تاریخ و خط کشور بود

هر جوانی کز ته دل پاسدار سنگر است

واو تیغ مجاهدان کشور را، کلید درب آزادی میداند که باکاربرد آن، پیروزی از آن کسانیست که هستی خویش را برای رهایی میهن از دست میدهند. پیامش درین باره چنین است:

حنیف مژده که تیغ مجاهد کشور

نشان فتح و به مفتاح باب میماند

حنیف، غایه و هدف رزم و جهاد مردم مسلمان افغانستان را، آزادی و ایمان میداند و هر آنچه غیر از آنست، درین مبارزه حق و باطل نادیده میانگارد، بدین

مقام بیا مومي ـ کهٔ چیرته کوم ناروغ بیکسه او مرستې ته اړوی،نو پر مؤمنینو د هغهٔ مرسته واجبه ده. پدی حدیث شریف کې دریم امر دهغه ناحقه بندي پهٔ برخه کې دی،چې ټولنیزو نیمګړتیاوو پهٔ ناروا د زندان تورتم ته ور دننه کړی وي ـ شریعت ددې مجبور انسان د خلاصون لپاره پر مؤمنینو لازمه کړې ده،چې د هغه بندی پهٔ خلاصون کې لهٔ هیڅ ډول مرستې ځځه ډډه ونکړي .

کهٔ څهٔ هم د مؤمن اخلاقي وجایب خورا زیات دي او اسلامي شریعت د مسلمان لپاره ټولنیز حدود ټاکلي دي،خو داسلامی ټولنې د اوچت اخلاقی معیار د پوهیدلو لپاره د همدې دریو اوامرو کره کتل کفایت کوي. پهٔ دې معنیٰ چې مؤمن بنده مکلف دی چې:

۱. دوړی نس مور کړي.
۲. د ناروغ پوښتنه او مرسته وکړي.
۳. کهٔ چیرته څوک پهٔ ناحقه بندي وي،د هغهٔ خلاصون خپله شرعی وظیفه وګڼي.

گونه:

درپهنهٔ این رزم جز آزادی و ایمان
هر چیز دگربود حنیف از نظر افتاد

او شهادت در راه اسلام و وطن را میستاید و آن را مایهٔ مباهات انسان میشمارد، بدین گونه:

باخط زرثبت تاریخ است پیکار شهید
نازها دارد وطن از ساز رفتار شهید

حنیف بلخی، مسلمانان کشور را به اتحاد و یکرنگی فرامیخواند و از نفاق و دورنگی برحذر میدارد. از آنان میخواهد که تعصبات زبانی و قومی را کنار بگذارند و در کنار هم آیند. حرفش درین باره چنین است:

ای برادر گیر دست اتحاد
شوی از دامان خود داغ نژاد
خویش را مسلم بدان ای گردمرد
گرد ترک و تاجک و پشتون نگرد

و یا این گونه فریاد برمیدارد:

تاکی زبان و قوم بود موجد نفاق
این چاک را به تار اخوت رفو کنید

مولوی حنیف بامناعت نفس و بلندی همت، فقر را از مقامهای عاریتی گیتی برتر میداند و باکم قناعت میکند، که زندگی مادی در برابر ارزشهای معنوی انسان پشیزی نمیارزد. سخنش درین باره چنین است:

دامن فقر رامده از کف آرزوی خود
دبدبهٔ شهنشی از سر بوریا طلب

او رهایی وطن را از چنگ دژخیمان، و رهایی بیوطنان را از بند درد و غم، از بارگاه ایزد متعال تمنا میکند و میخواهد که شب تاریک اندوه، جایش را به صبح روشن امید بگذارد، و این گونه استدعا مینماید:

یارب زسر لطف و کرم چهره گشاکن
براین شب دیجور فروغ سحری را

بانگاهی به این مجموعه درمییا بیم که شعر حنیف بلخی، شعر جهاد است، سخن دل دردمندانست و ترجمان اشک و درد و داغ آواره گان. شعر او حماسه شهدای وطن است. این چند سخن که صرف به غرض معرفی کتاب بوده، بهیچ روی نمیتواند، بیانگر همه جنبه های شعر اوباشد. سخن گفتن درباره این اثر و دیگر آثار شعری حنیف، ژرف نگری بیشتری را ایجاب مینماید. درین جا بدین مختصر بسنده میکنیم و گفته ها را در بارهٔ سنگرستان و سرایشگر توانای آن با آوردن غزلی زیر عنوان «فیض» به پایان میبریم و قریحه شعری حنیف بلخی را در پدید آوردن آثاری ازین دست سرشار میخواهیم:

بوسیده ایم تا به ادب آستان فیض
پیموده ایم دشت و در صد جهان فیض

ای دل مترس از سفر زندگی، چوهست
در گوش نغمهٔ جرس کاروان فیض
سالک تو دل منه که شنیدیم تا به حال
ره گم نکرده قافله رهروان فیض
زآغوش بحر، قامت موجی نکرد اوج
او را نسیم تاکه نشد نردبان فیض
بال هما اگر چه به اوج سما رسید
بیرون نگشت از شکن استخوان فیض
عمری حنیف بیخود و از خویش رفته ایم
زان شاخ گل که داد به ماباغبان فیض



مرکه د
محمد اصف صمیم

له
ظفر
کاکاخیل
سره

مرکـه

پوښتنه:

قدرمن ظفر صاحب! د سپيڅې ګرانو لوستونکيو ته د خپل شخصي ژوندانه پر هغه برخه يو څۀ رڼا واچوئ، چې تاسې يې د خپلو علمي، تاريخي او ادبي محرکاتو او انګيزو پۀ توګه پيلامه ګڼئ؟

ځواب:

په دې سلسله کې به زهٔ دومره عرض وکړم،چې هر سړی په خپل ژوند کې څهٔ ناڅهٔ شغل او دلچسپي لري، د چاڅهٔ کار سره مينه وي، د چا څهٔ سره مينه وي، د ابتداء نه زما مطالعې سره او اخباربينۍ سره مينه وه، او قدرتي طور زما طبيعت داسې دی، چې لږ تنهايي پسنده يم؛ نو وخت تيري د پاره به مې کتابونه کتل او په دې سلسله کې ما بيا تاريخي او ادبی سلسله کې د خپل وس مطابق کار شروع کړ، او هغه چې ماڅهٔ کړي دي،تاسو ته هم معلوم دي او خلکو ته هم معلوم دي؛ نو بنيادي وجه خو يې همدغه ده.

پوښتنه:

تاسې د يو مورخ په توګه د پښتنو د اصل او نسل په باب د قدرور هڅې کړې؛ خو ددغه شان کړکيچنې مسالی په باب ستاسې له دومره زيار سره سره په کوزه پښتونخوا کې ددې نظر پلويان کم دي دا ولې؟

ځواب:

ددې وجه ځرګنده ده، دلته کې تاريخي معامله او تاريخي واقعات په سياسي نقطه نګاه سره کتلای شي، د پښتنو په باب چې زما کومه نظريه ده، هغه په جديد معلوماتو او ساينسي تحقيقاتو مبني ده، ددې نه مخکې چې کومه نظريه د پښتنو د نسل په باب مشهوره او مروجه ده، هغه د اسرايليت نظريه ده، زما دا عقيده

ده، ما دا ثابته کړې هم ده، چې پهٔ هغه وخت کې چې دا نظريه د پښتنو مشرانو وضع کوله؛ نو د يو سياسي ضرورت پهٔ لحاظ يې وضع کړې ده، هغه وخت کې نورې نظريې لکه د نن زماني غوندې نهٔ وې، دغه نظريه وه چې ټول بنيادم د حضرت نوح (ع) د دريو زامنو (سام، حام او يافث) اولاد دی، او د سام اولاد ته ددې نورو زامنو پهٔ اولاد باندی فوقيت حاصل دی، اوس پهٔ دغه زمانه کې پهٔ هندوستان کې قابل ذکر درې قومونه وو، يو مغول وو، چې هغه د پښتنو حريفان وو، هغو سره خو د نسل سوال نهٔ پيداکيدو، بل درواياتو مطابق هغه د يافث پهٔ اولاد کې وو. دويم هندوان وو، هندوان يو خو بتپرست وو، دويم د پښتنو ډيره موده محکوم پاتې شوي وو؛ نو د هندوانو سره پهٔ نسلي اشتراک کې هم ځهٔ موزونيت نه معلوميده او نهٔ يې ځهٔ جواز و، بله خانه چې کومه خالي وه، هغه د ساميت خانه وه؛ نو بس پښتنو ځان سامیان کړل او پهٔ سامیانو کې يې د بني اسرائيلو شاخ ځانته ونيولو، پهٔ دې وجه چې پهٔ قرآن پاک کې چې ځومره انبياء راغلي او ذکر شوي دي؛ هغه اکثر سامیان دي، بني اسرائيل دي؛ نو پښتنو پهٔ دې خيال باندی، چې مونږه د پيغمبرانو اولاد کې ځان شامل کړو؛ نو پهٔ مغولو به مو فوقيت د آل راشي، نو اوس دا چې پهٔ کوزه پښتونخوا کې زما د نظريې حامیان ولې کم دي؛ نو ددې يوه وجه خو داده؛ چې لکه ما عرض

وکړو، چې دلته هره خبره په دله بازی، په سیاست باندی محمول کیږي.

په دویم جنګ عظیم کې عبدالجبار خان (مرحوم) د صوبه سرحد یو دانشور و، هغهٔ یو کتاب لیکلی و، (بني اسرائیل یا ملت افاغنه) هغه کتاب کې صفا دا معلومیږي چې دا خاصو اغراضو باندې لیکلی شوی دی، بیا ددې (اسرائیلیت) نظریې په تائید کې دوه دري نور کتابونه ولیکلی شول، د یو پکې د تاریخ الافغان نامه ده، هغه محمد اسلم خان جدون د ایبټ آباد لیکلی دی بل (تذکره پټهانوں کی اصلیت اور انکی تاریخ) دا روشن خان (مرحوم) د نوې کلې لیکلی دی، روشن خان مرحوم په دې سلسله کې څهٔ کتابچې لیکلې دي،ددې کتابونو د مطالعې نه پس زهٔ دې نتیجې ته رسیدلی یم، چې دا ټول د یوې خاصې نظریې او یو خاص تحریک په بنا باندې لیکلې شوي دي، چونکه روشن خان (مرحوم) مالدار سړی و، هغهٔ به کتابونه شایع کړل، خلکو ته به یې مفت ورکړل، په دې طریقه باندې د هغهٔ خپله نظریه عامه شوه، اوس مادديِ نظریې په تردید کې، بلکې د نورو مروجو نظریو په تردید کې هم یو کتاب لیکلی دی، او هغې کې ما په تاریخي واقعاتو باندې ددې ټولو نظریو تاریخي جایزه پیش کړې ده او فیصله مې قارئینو ته پریښې ده، چې آیا زهٔ په درسته یم او کهٔ دا،چې څهٔ دي درست دي؟ لیکن چونکه زما مالي حالت کمزوری

دی، هغه کتاب تر اوسه ماسره د قلمي مسودې په شکل کې پروت دی، کهٔ چرې هغه کتاب شایع شي؛ نو خپله به خلکو ته پته ولګي، منصف خلکو ته، چې کوم خلک ددې مسألې تحقیقي جایزه اخیستل غواړي، هغوی به بالکل په دې خبره پوه شي چې اسرائیلي نظریه تر کومې پورې جایزه ده؟ او دا تاریخي حمایت لري.

باقي ځنګه چې ما عرض وکړو، زما خو نهٔ پراپیګنده شته، نهٔ اخبارې بیانونه ورکوم، نهٔ چاته کتاب مفت ورکولی شم او نهٔ مې ځوک داسی په پره باندې شته دی، چې زما په حمایت کې مضامین ورکړي، زما د نظریې تائید وکړي، بیا هم چې کوم خلک پوه خلک دي، هغه زما د نظریې تائید کوي، مثلاً په مردان کې ډاکټر حسن خان سوز (مرحوم) امین الحق ډاکټر مرحوم او داسې ډیرو نورو زما د نظریې تائید کړی دی او اوس یې هم کوي، صرف دومره ده، چې په اخبارې بیانونو کې زما د مضمون تائید ځکه نهٔ دی راغلی چې دې ته اهمیت نهٔ ورکوي.

پوښتنه:

تاسې د خپل تاریخي اثر (پښتانه د تاریخ په رنا کې) لیکلو، د افغانستان د پخوانی او معاصر تاریخ پراخې مطالعې ته مجبور کړي وئ، د همدغې مطالعې په رنا کې پر افغانستان باندې د روسانو د یرغل تاریخي او سیاسي شاځمکه (پس منظر) څنګه ګڼئ؟

ځواب:

ځومره چې په دې باب کې زما د مطالعې تعلق دی؛ نو افغانستان د زمانۀ قدیم نه، بلکې ماضي قریب کې د دوو لویو حکومتونو تر منځه پروت دی، یو طرف ته انګریزان وو، چې په هندوستان باندې یې قبضه وه او بل طرف ته روس و، د روس او انګریزانو تر مینځه سیاسي ګرګیچ و، د هر یو به دا کوشش و، چې افغانستان دې زمونږه په تسلط کې راشي، چونکه انګریزان په سیاسي لحاظ سره ډیر سامراجیان او استعمار ګروو؛ نو دافغانستان حکمراني پارټی قدرتاً د انګریزانو په مقابل کې د روس سره دوستانه تعلق ساتۀ، د حکمرانو خاندانونو چې ځومره تعلق و، هغه سره د انګریزانو په مقابله کې زیات و.

پاتې شو، دا موجوده د روس مداخلت؛ نو دا یوه داسې مسأله ده،چې ددې یو طرف ته د روس ملګري دي او وایي، چې مونږه د روس نه د باغیانو (مجاهدینو) په مقابل کې امداد غوښتی دی، بل خوا چې د روس کوم مخالف مجاهدین دي، هغوي د اسلام په خاطر دا جهاد کوي؛ نو دا یوه داسې مسأله ده چې روس ته نه وه پکار چې په دې معامله کې یې ځان راګډ کړی وای، نو که اختلاف هم وای او جنګ جګړه هم وای نو خپلو کې به یې پریښې وای، چې څه یې خوښه وای، هغه به یې کول، د روس مداخلت زما په خیال کې موزون نه و.

پوښتنه:

پر افغانستان د روسي يرغل اثرات پرګاونديو هيوادونو څنګه ګڼئ او د روسانوپه وراندې د افغانانو دغه کړې مقاومت ته څنګه ګورئ؟

ځواب:

که د روس د يرغل په نتيجه کې د روس مقاصد حاصل شوي واى، نو دا خو لازمى خبره ده چې هغه اثرات به ګاونډو ملکونو لکه پاکستان شو، ايران شو، ته خوريدل او په دې ملکونو به د هغې (منفى) اثرات يقيناً راتلل، سمدستي يا د وخت په تيريدو. ما عرض وکړ چې د افغانانو مزاحمت هم د يو مقصد د پاره دى، هغوي چې کوم مقصد حاصلول غواړي هغه د يو اسلامى حکومت راوستل دى، نو داسلامى حکومت د راوستو سره به هيڅوک هم مخالفت نه کوي او له دې نه به انکار نه کوي، چې د يو لا ديني يا د کميونستي حکومت په مقابل کې دې يو اسلامى حکومت نه وى.

پوښتنه:

د يو سياسي او مذهبي نهضت په حيث د پير روښان مبارزه او جدوجهد څنګه ګڼئ؟

ځواب:

اګر چې د اکثرو خلکو دا خيال دى، چې داخون درويزه مخالفت د پيروښان سره د مغولو په تائيد کې و، خو زما ذهن دا خبره نه مني، ځکه چې اخون درويزه

د پښتو تفسيرونه:

الحاج حبيب الله رفيع

عرفاني تفسير

«عرفاني تفسير» د پښتو يو ډير مهم، معتبر او بې جوړې تفسير دی چې په دوولسمه هجري پيړۍ کښې ليکل شوی دی (۱) ددې تفسير لومړۍ نيمايي برخه شته، خو دوهمه نيمايي برخه يې لا تراوسه لاس ته نه ده راغلې، همداراز له بده مرغه د پيل څو پاڼې يې لويدلې، چې پوازې د سورهٔ فاتحې دوروستيو څو آيتونو تفسير لري. او کوم تمهيد يا سريزه يې کهٔ درلودل هغه

یو نیک سړی و، عالم سړی و، په هغه وخت کې د مغولو دلته کې دومره (پلوي) هم نه و، صرف د یو سفزو سره د هغوی (مغولو) شخړه او ورانه راغلې وه، د اکبر په زمانه کې په یوسفزو هغو حملی کړې وې او پاتې شوه دا خبره چې یقیني ثبوت داسې نه شته چې داتري معلومه شي، چې اخون درویزه د مغولو په وجه د پیر روښان مخالف و هغه مخالفت چې په مذهبي عقایدو باندې و، اخون درویزه سخت متشبث سړی و، هغه هیڅوک هم نه دې معاف کړي، هغه د خپلو عقیدونه چې لږ غوندې هم ځوک برخلاف و، هغه باندې یې د کفر او الحاد دعوی کړې، نو په دې باب کې خو زه مغول پکې نه راولم، خو مخالف یې و. پاتې شوه د پیر روښان مذهبي یا سیاسي تحریک، هغه مذهبي تحریک و، لیکن ورو ورو بیا د هغې نه سیاسي جوړ شو؛ ځکه هر حکمران دا نه غواړي چې زما مخالفت کې دې ډله جوړه شي؛ نو که هغه سیاسي تحریک هم نه و، خو د مغولو په وجه هغه سیاسي شو، وروسته د هغه په اخلافو کې خود بیا سیاسي و، هر څه چې و، که مذهبي و، که سیاسي و، خو زه یې د پښتنو د پاره مفید ګڼم، ځکه چې پښتنو کې هسې هم د ازادۍ جذبه موجوده ده، لیکن ددې نه علاوه تنظیم پکې هغه (روښان) پیدا کړ او د هغه په وجه د مغولو سامراج ته ډیره موده ډیر تکلیف و، او بندیز و پکې، او چې څه وخت لاړ، نو بیا مغولو

ته لار وزګاره شوه.

پوښتنه:

ما ستاسې په حواله چیرته لوستي وو، چې د پښتو لومړنی ډرامه د «وینو جام» ستاسې له قلمه څخیدلې وینه ده؟ دا رښتیا ده؟

ځواب:

دا خبره چې د پښتو وړومبی ډرامه ما لیکلې ده، ددې حقیقت به درته په لنډو ټکو کې ووایم، چې په (۱۹۳٤) کې خان بهادر قلي خان (مرحوم) زمونږ د ټریننګ سکول پرنسیپل ته خواست وکړ، چې په چاپوه د پښتو ډرامه ولیکه، چې د پښتنو د بدو رواجونو یادونه پکې شوې وې، او د هغې د تدارک د پاره پکې څه اسباب وې، او دا ډرامه به بیا په پیښور او خواوشا علاقو کې په سټیج کیږي، پرنسیپل او نورو استاذانو دا کار ماته حواله کړ، هغه وخت په پښتو کې بالکل ډرامه نه وه، که وه هم، نو زما د نظر نه نه وه تیره شوې، استاذانو په ما زور واچولو، نو ما دادمه واړې ومنله، ماسره یو دوه هندوان وو، دبنو د ډیرو، هغوي په درمسالونو کې په سندرو بلد وو، نو زما لار ښوونه یې وکړه، چې ډرامه څنګه لیکل کیږي، یعنې زه یې ډاډه کړم، ما توکل وکړ او ډرامه مې ولیکله، او نوم مې ورته «د کلیو شایست» کیښود، دا ډرامه د تاکال د نواب علیخان مرحوم په دیره کې سټیج شوې هم وه او په دې

کې خان بهادر قلي خان او نور مشران او زمونږ د ټریننګ سکول پرنسپل هم شامل وو، پرنسیپل هغه ډرامه مانه واخسته، چې دا د ۱۹۳٤ وروستۍ ورځې وې. ډرامه لهٔ پرنسیپل نه ریډیو سټیشن وغوښته، د ریډیو نه او ټریننګ سکول د پرنسپل د طرفه ماته خطونه راغلل چې ستا دا ډرامه به مونږ د ۱۹۳۵ (زمې پهٔ وروسبۍ نیټه) براډکاسټ کوو، تهٔ به یې هم واورې، ما سره هغه وخت ریډیو نهٔ وه، نو ما وانهٔ وریدی شوه، نو دا د ریډیو نه براډکاسټ شوی ډرامه، زما ډرامه وه، ډرامه پهٔ ریډیو کې پاتې وه، اسلم خان (خټک) چې له انګلینډ نه راغې، براډکاسټنګ افیسر شو، نو هغهٔ دا ډرامه عبدالکریم مظلوم ته وسپارله، هغهٔ پکې یو څهٔ ابتدایی تبدیلۍ وکړې او د «وینو پهٔ جام» یې بدله کړه.

لکه ما چې وویل، ماسره داسې څهٔ وسایل او ذرایع نهٔ وو، چې ما ددې تحقیق او سپیناوی کړی وای، ډیره موده زما داخبره هډو له خیال نه وتې وه، چې شپږ اتهٔ میاشتې مخکې د (اکیډمی) پهٔ پښتو رساله کې د ډاکټر اعظم یو مضمون خپور شو، پهٔ هغې کې د وینو جام ذکرو، ما چې ولوست، نو هغه ته مې ولیکل، چې دا ډرامه اول ما لیکلې ده، زهٔ دانهٔ وایم، چې د هغې نوم «د وینو جام و»، خو پلاټ او بنیادي خاکه هماغه ده.

ددې خبرې پهٔ سپیناوي کې ماځکه دلچسپي نهٔ ده اخستې، چې زهٔ یو ګوشه نشین سړی یم، ددې خبرې

راته څهٔ ضرورت دی، چې په اخبارونو کې مې دې نوم راشي، نهٔ مې څوک مریدان شته او نهٔ مې څوک پیران میران شته، بس خپل شغل کوم.

پوښتنه:

دادبیاتو د تاریخ ځیرنه او مطالعه هم د عمومی تاریخ لهٔ بهیر سره یو ډول ترون لري او تاسې په دې ډګر کې هم ښایسته ډیر ځغل کړی،د پښتو په کلاسیکو او معاصرو شاعرانو کې مو سترګی چاته اوړي او څوک مو خوښیږي؟

ځواب:

دا خو یو داسې سوال دی،چې د هر سړي چې ځنګه فکر مختلف وي، داسې د هغهٔ خوښه او مذاق هم مختلف وي، شاعران خو په کلاسیکي شاعرۍ کې هم زیات دي او په معاصرو کې هم، خو زهٔ نهٔ د چاغندنه کوم او نهٔ د چا بې ځایه ستاینه کوم، په زړو شاعرانو کې مې خوشحال خان خټک خوښ دی، ځکه دا یو داسې شاعر دی،چې د ژوند په هر اړخ یې عبور کړی دی. عشقیات، هزلیات، رجزیات او هر څهٔ لري او په معاصرو شاعرانو کې مې د یونس خلیل شاعري خوښه ده.

پوښتنه:

د خپلو آثارو د کمیت په باب راته یوځهٔ ووایئ،چې څومره څهٔ مو لیکلي دي؟

ځواب:

چونکه زما تعلق د درس وتدریس سره و، نو ما درسي کتابونه هم لیکلي، چې په هغو کې له اول نه تر

اتم جومات پورې منظور شوي هم وو. او له ۱۹۵۷ نه تر ۱۹٦۲ پورې په سکولونو کې لوستل کیدل، او همداشان مې د لسم، یوولسم او دولسم د پاره هم کتابونه لیکلي وو، خو هغه منظور شوی نه وو، دې نه علاوه ما په نورو ژبو کې د پښتو د متعارف کولو دپاره په پښتو اردو کی هم یوه سلسله شروع کړې وه. ددې نه علاوه، ما ځینې اسلامي کتابونه د اردونه په پښتو ترجمه کړي دي، او نورنو دا موجوده کتابونه «پښتانه د تاریخ په رڼاکې» دي، ظفر اللغات دی او هم دې کتابونو مې دیر

وخت هم اخیستی دی، خصوصاً لغت خو ډیر ګران کارو او د ډرامې غوندې په لغت کې هم زما په مخکې څه نمونه نه وه. زما یو بل کتاب پښتو ګرایمر دی (رهنمای پښتو)، په کاکا صاحب (رح) مې لیکلی کتاب (شیخ رحمکار) نومیږي. یو ناچاپ ناول راسره پروت دی، د ماشومانو دپاره مې اخلاقي قصې د سروزروسیند او د بودې غواړم لیکلی دی چې غوند به مې لوی او وارۀ دیرش پنځه دیرش کتابونه لیکلي وي او داسې مې لس پنځلس لۀ اردو نه په پښتو ترجمه کړي دي، اوس هم راسره د پښتنو د نسل په باب په اردو د یو کتاب مسوده پرته ده، کۀ الله تعالیٰ شایع کړ، نو د پښتنو د نسل مسأله به پرې انشاء الله تر ډیره حده پورې حل شي.

دار

د اکټر محمد اکبر "اکبر"

هره بلا د کربلا ، بلاشوه
هر یو یزید راته پهٔ څوکښې ناست دي
چې د بیلتون لهٔ تنه څوک پیدا دي
هغه د بنکلو پهٔ پلوکښې ناست دی

— x xx —

اې کل پالونکی ستا د مینې پهٔ لور
چې هر قدم ږدم پهٔ اغزو پریوځي
نظر کهٔ زړهٔ له کمخوته رسي
خو لاس د دار پهٔ تنستو پریوځي

— x x x —

د سؤ ماسیمه رانه مرګ لاندې کړه
دوینو سره رانه لیوانو وړي
د هندوکش د بنا پېرو بجوړي
د کوهٔ قاف تورو دیوانو وړي

اوس چاته وژارو او چاته کښېنو
چاته ټوټې ټوټې وطن بنسکاره کړو
چاته زخمونه سينې وسپړو
چاته توکړې توکړې دتن بنکارې کړو

— x x x —

سيلاب دوينو موفرعون يونۍ وړ
اوس به له کومه ورته نيل راولو
څمکه بې خدايو شيطانانو بنکيل کړه
له کوم اسمان نه ابابيل راولو

— x x x —

پۀ کومه سيمه يتيمان راغونډ کړو
چرته لکونه شهيدان وسپارو
څنګه دوخت دځنا ورولاس ته
امانتونه دانسان وسپارو

— x x x —

څنګه دنېمو شپو قبولې دُعا
د دوزخونو پۀ وبال خرڅې کړو
دپت دپېغلو فرښتو لمنې
د شيطانانو پۀ دلال خرڅې کړو

— x x x —

څنګ د سرکوزو در ته سرو رکوزکړو
د شپو ببرو پښو ته لمر ورکوزکړو
دګلو درمند پهٔ از غو سنبال کړو
د چړو څوکو ته پرهر ورکوزکړو

— x x x —

دارمانونو بهیر لار ورکه کړه
وراندې ورځې خوپهٔ کومه لوری وړشي
لوټ لاروی یې پهٔ تنهاکو پاپو
دلته د کوم بوټی ترسیوري ورشی

— x x x —

نو، اوس به جنونه زغم تنې راشلوی
داوربڅرکی به دلمره دانګی
د چم له سره د غره سرته و لاړل
دالیونی بهٔ اوس له سره دانګی

— x x x —

دلیونو عزمونو څرکی وکړی
پهٔ لوړه خپړی جوړی څارته خیژی
یاخوبه غږی د دلدار ته خپړی
یا دا اجل نیولی دارته خپړی

— x x x —

م - حنیف

سخن

بشنو ای بیدار دل، ایمرد خوشبین سخن
تا بگویم از تجلّی های آئین سخن

بالد از یک شاخ گلچندین بهار رنگ و بو
گر رسد بر ساعد او دست آذین سخن

شوخیٔ جیحون نمی گیرد رهٔ خنک خیال
تا سخنور می نهد بر پشت او زین سخن

هیچگونه در صدف گاه معنیٔ نغز و لطیف
نیست خالی چنگل گیرای شاهین سخن

در بساط شاعری زانو زن و رخ را متاب
کاندر بنجا هر پیاده هست فرزین سخن

صد کتاب شرح و متن حسن می آید بدست
گر کنی تفسیر از یک آیهٔ دین سخن

چون شراب ناب جوشد در رگ بازوی تاک
می جهد معنای دلکش از شرابین سخن

مشک تبت ریزد از جیب و گریبان بهار
با خرام یک غزال دامن چین سخن

با نزاکت بیهمگی در اوج معنا پرشد
چرخ می چرخد بدور ماه و پروین سخن

آسمان بوسد بجرئت آستان آدمی
میشود واقع اگر، از آن و ازاین سخن

ای بسا فرزانوایان و سلاطین زمان
با ادب زانو زده پیش فرامین سخن

گه بدرد خمار آلوده سوی میفروش
گه بسوی خانقه چشم خرابین سخن

گاه بحرِ کرانی ریزد اندر کوزهٔ
گر شود یک قطره، بحری از اباسین سخن

گر فراشیب جهانی را فراگیرد نفیر
از آتش یک نی، نوای شورآگین سخن

آنکه استعداد استلذاذ دروی کم بود
گوش او تاثیر کی گیرد زیاسین سخن

از سخن گر قصه گویم مو بمو، گردد دراز
چون شب یلدا بود گیسوی مشکین سخن

در سخن باشد حنیفا، معنای صلح و سلام
زان بود حرف سلام حرف تحسین سخن

لویدلي دي، نو ځکه يې په صراحت د مؤلف نوم نشته، خو د قراینو له مخې داسې ښکاري چې دا تفسیر دې دافضل خان خټک وي، په دې برخه کښې هغه قراین چې مرسته راسره کولای شي دادي:

۱- تفسیر د خټکو په لیکدود یعني په زنځیري لیکدود په ښکلي نستعلیق خط لیکل شوی دی (البته پښتو برخه، عربي برخه په نسخ لیک ده).

۲- تفسیر د کوم دري (فارسي) عرفاني تفسیر پښتو ژباړه ده، چې پکښې راغلي بیتونه او شعرونه يې هم په پښتو شعر اړول شوي دي.

۳- د نثر او شعر ژبه يې د افضل خان خټک د کلیلې دمنې له نثر او شعر سره ورته ده.

٤- راورتي د خپل ګرامر په سریزه کښې د افضل خان خټک په آثارو کښې دیوه تفسیر یادونه هم کړې، چې ښایي همدا تفسیر وي.

کله مې چې ددې تفسیر نسخه خپل استاد ارواښاد علامه عبدالحی حبیبي ته وښوده هغوی هم د نسخې د کتلو او د روایاتو په رنا کښې دا ومنله چې دا تفسیر به د افضل خان خټک وي.

اوس چې څو ددې تفسیر بله بشپړه نسخه تر لاسه کیږي او دا ثابتوي چې تفسیر د افضل خان دی کۀ نه؟ موږ دا تفسیر دافضل خان خټک ترجمه بولو او دافضل خان خټک د تفسیر په نوم يې پیژنو

م - ر - شفق

شکایت

دلت اوروښه وریدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې
که نصیبونه سوزیدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې

مینې پۀ وینو ړ ړ ړیدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې
چې پرهرونه مسیدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې

د چا د فکر پرستان کښې غوغا جوړه شوله
د غم دیوان وو شښنیدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې

خومره ستم وو تلخوږی ستړګی ړاپورته نکړې
د مینې کلي ورانیدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې

د محبت د ریګزارونو نه لمبې خټلې
شوی لفظونه ماتیدل خوښ پۀ خوب ویدۀ وې

ستاد نظر پۀ پلوشوچې پر قید د ل وختونه
لکه د ستورو پر یوټل خوټۀ پۀ خوب ویدۀ وې

ناپې سم وو پسرلیه! د خزان باد ونه
تنکی ګلونه ټرپیدل خوټه پۀ خوب و یدۀ وې

د مینې لاره د حرص او د هوس خونۀ وه
بنکلې پۀ زړو خرڅیدل خوټه پۀ خوب ویدۀ وې

ماوی قیصه به د رته کوم د شوکیدلی وربل
د غه ارمان زما همدمه! لۀ پخوا نه کوم
یو ځل به نۀ هم د زخمونو پسرلی وویني
ماوی پټوس به د رنګونو نړۀ لۀ تا نه کوم
خوټۀ وربې حسین خوب یې هډو غږ ننۀ کړی
د اشکایت به رنګ وربیه! اوس ډاډ نه کوم؟

وصف الحال

استاد محمد یوسف «آئینه»

درین کلبه منم ، تنهای تنها
که جان بخشا غذایست ، یار تن ها

کنار چارچوب بسته ، در
میان خواب و بیداری نهم سر

من و دیوار و طرح گفت و گوئی
که دیوارم دهد ، راهی بسوئی

——*

به شاخ تاک و روی چیله تاک
به پروازند گنجشکان بیباک

نه از اندیشهٔ فردا هراسان
نه از کردار دیروزی پشیمان

——*

روان از مورچه ، هر جا سیاهی
چو خط کهکشان های سیاهی

زمین میراث طلق مورچگانست
عبث دعوای انسان در میانست

——*

برین طاق کهن ، موسیچه خفته
دو جوجه را بزیر پر نهفته

صدای جوجه ها ، بس دلنواز است
درین آواز یک دنیای راز است

ازین موسیچه های جوجه پرور
نیابی باب و مامی مهربانتر

——*

تنیده دام روی تار برتار
در آنجا عنکبوتک لای دیوار

فرو گیرد درین دام مگس گیر
ضعیفی را ببازیهای تقدیر

——*

غو شندر زماشین های پران - چو ضرب تپک آهنگر به سندان
ز غرّش های تانک و بانگ موتر چه گویم کاش بودی گوش ها کر

* — * — *

نه در تن تاب و نیروی جوانی نه در دل پرتوی از شادمانی -
جُدا افتاده از یاران دیرین بود در شهر ما این رسم و آئین

* — * — *

چه زیبا گفت خاقانی به شروان به تقریب چنین حال پریشان
« فلک کجرو تر است از خط ترسا » اگرچه جادران بگزیده « عیسیٰ »ع

* — * — *

کابل - کارته پروان
یوسف « آئینه »

زرکه

تسلّی

که دې سرپۀ وطن کښود — که شهید شوې د زړۀ سره
وارې عمر به دې زرکه — وې د یادو ښنجوره

هره ورځ به در کومه — د مړو اوښکو غُسل یاره
هره شپه به بلومه — د زړۀ شمه ستا دپاره

د مرمرو تاج محل نه — بنایي غوره دغه کاروي
چې پۀ ذهن کښې ې پرته — چې پۀ زړۀ کښې دې مزار وي

خدای دې نکړي که شهید شې — بیا به هم کوره زما یې
مینه ندۀ مري مین ندۀ مري — په نغمو کښې به مې پایي

پۀ رګ رګ کښې به مې کړځې — هره ساه کښې به مې تۀ یې
پۀ خاطر کښې به مې تۀ یې — پۀ ښکاه کښې به مې تۀ یې

چې زۀ ستا پۀ یادو پایم — تۀ زما پۀ زړۀ کښې پایې
زۀ به تن یم، تۀ به روح یې — زۀ به ستا تۀ به زما یې

امان الله نصرت

موږ !

په وینو سړي کلي کوڅې دي موږ هره خوا بلي سړي لمبې دي موږ
غزاته حمله غورځنګونه کوم لهٔ استعمار سره جنګونه کوم

موږ جهاد ته روانېږمه زهٔ پهٔ غاصبانو زلزلې راولم
توپک مې راکړه نهٔ صبرېږمه زه د غلیم کورته سړي لمبې راولم
پهٔ خپلو وینو به لوبېږمه زه پهٔ استعمار توري تیارې راولم
د حق پهٔ لارکښې قربانېږمه زه تالا والا کورته ډیوې راولم

د ظالمانو ناکرده دي موږ
پهٔ وینو سړي کلي کوڅې دي موږ
پهٔ خلق پرچم د مرګ کوابنونه کوم
غزاته حمله غورځنګونه کوم

موږ زما د پلار نیکونو وطن پهٔ سرو لمبو ببریت سوځېږي
دا د تاریخ د عظمتونو وطن پهٔ بې رحمۍ وحشت سوځېږي
د پت غیرت اود ننګونو وطن هره لحظه پهٔ هر ساعت سوځېږي
دا ترلوړو ولسونو وطن د سره بنکلاك پهٔ شرارت سوځېږي

د توپانونو سلسلې دي موږې
پهٔ وینوسړې کلي کوڅې دي موږې
پهٔ خلق پرچم دمړنګ کوا نبونه کوم
غزاته حڅمه غورځنګونه کوم

موږې د حق لهٔ دښمنانو سره به زه پهٔ توره فیصله کومه
د کمونېزم غلامانو سره پهٔ ټینګ ایمان مبارزه کومه
وطن پلورونکو د آګیانو سره پهٔ سر او مال مقابله کومه
له روسپرستو پرچمیانو سره توپک پهٔ لاس حڅمه جګړه کومه

لهٔ هرې خوا سختې حملې دي موږې
پهٔ وینوسړې کلي کوڅې دي موږې
لکه زمري غوندې بریدونه کوم
غزاته حڅمه غورځنګونه کوم

د بلواکي ورځې اوښې ختمومه د آزادۍ د سپین سبا پهٔ هیله
د تورتمونو قافلې ختمومه پهٔ ګران وطن کښې پهٔ هیله
د کمونېزم سلسلې ختمومه د ولسونو د بقا پهٔ هیله
د خزانونو زمانې ختمومه د خوږ ژوند ون او ارتقا پهٔ هیله

زړهٔ کښې زما پاتې اسرې دي موږې
پهٔ وینوسړې کلي کوڅې دي موږې
پهٔ دغه لارکښې قیامونه کوم
غزاته حڅمه غورځنګونه کوم

م. سپرلی

تقریظ

چشمې مې زړهٔ بې زړهٔ پهٔ سترګو سمې کړې، او لکه یو متهم چې د ځوابونو لیکلو ته په تر هنده زړه قلم ور واخلي ما هم راواخیست نپوهیدم چې څه ولیکم او څه به مې د خلاصون موجب شي؟

درییمه ورځ وه چې کتاب راته پروتؤ، د کتاب د لیکونکي تقاضاوه چې تقریظ ورباندې ولیکم خو چې هر کله به مې د کتاب پاڼې راوارولې او هر څومره به ورته ځیر شوم داسې ځهٔ پهٔ نظر نه راتلل چه ماته د ځهٔ لیکلو

موضوع په لاس راکړي او زه یې وستایم. داخل مې ټینګ عزم کړی و چه څه به پرې لیکم، سپینې پانې مې راته ایښې وې بیا مې کتاب راوخیست خو متأسفانه یا به په کتاب کې څه نه وو یا به یې زه په خوند او کیف نهوهیدم. عادي خبرې وي او بیخونده مطالب په کمزورو جملو بیان شوي وو. د نقد لپاره ډیر څه په لاس راتلل او د ستاینې او تقریظ لپاره هیڅ هم په کې نه وو. کتاب مې یوې خواته وغورزاوو قلم بلې خواته، په دغه وخت کښې شریف خان راغی، شریف خان زما د ډیر عمر اشنا او د ژوند په مسایلو کې زما لارښود او رهنما دی. شریف خان ته له زړه خوښ شوم ځکه هر وخت خدای پاک دی ماته زما داستیصال او پریشانۍ په وخت کې راورسوي.دده تسلي او لارښودنه همیشه په ښه راغلې او په ښه راځي. شریف خان زما ناقراري او ورسره دده په راتلو زما خوښي درک کړه وې پوښتم:

- ګمان کوم څه دی لیکل له کاره خو به می نه ئی ایستلی؟

ما ورته وویل:- هو، څه لیکلو ته ارشوی وم خو نهوهیدم چې څه ولیکم ښه شوه چې تاسو راغلئ ګوندې په ګډه دا معضله حل کړای شو.

ده وویل: موضوع څه ده؟

ما ورته وویل:- خورین صاحب خو پیژنې ؟

- هوا ولې نه.

- پۀ دې هم خبریې چې لۀ ماسره یې مناسبات د دوستۍ له پولې اوښتې دور وړې سرحد ته رسیدلې.

پۀ دې هم پوهیږم.

- دا به هم در معلومه وي چه دیر ښه سړی دی په هیڅ قیمت یې خوابدي نه غواړم.

- د ښو خلکو دوستي د خدای لوی نعمت دی. واقعاً په دیر څه ارزي او له لاسه ورکول ئې دیره ناپوهي ده.

- دا به هم درته جوته وي چه خورین صاحب لۀ ښه مرغه یا نپوهیږم له بده مرغه شاعر هم دی.

- له شاعرۍ یې هم خبر یم.

- دغه دی اوس یې د خپلو شعرونو مجموعه چاپ ته تیاره کړې ده او له ما څخه یې غوښتې دې چې یوه مفصله مقدمه ورباندې ولیکم.

- دا خو دیره ښه خبره ده. دوست دې دی ، له نظر یاتو یې خبر یې، دشعرونو په کم و کیف یې تر هر چا ښه واقف یې - فرصت لرې د لیکلو چل هم درځي نوره لا د پریشانۍ څه خبره ده؟

د پریشانۍ او خواشینۍ موجبه مې داده چه فکر کوم انسان ولې دومره ظالم دی چه په دوستۍ کې به دې هم تر خوږ ګوته نیسي؟ آخر خورین صاحب خو زما دوست وو ، دوست باید له دوسته هغسې تقاضانه ولري چې پۀ وسه ئې نه وي،د خورین صاحب تقاضا له ما څخه

د عرفانی تفسير ليکوال:

کۀ څۀ هم تراوسه د ژوند ناوزګاريو دا موقع نۀ ده راکړې چې پۀ دري کښې دې يو داسې عرفاني تفسير ومومم، چې د پښتو دا تفسير دې تري ژبارل شوی وي، خو د تفسير متن چې پۀ غورو لوستل شي، د شعرونو او فقرو ترجمه پۀ خپله ښيي چې دا لۀ کوم دري تفسير نه ژبارل شوی او تأليف نۀ دی، نو ځکه دا تفسير د کوم دري تفسير ژباړه بولو او ژبارونکی يې هم لکه چې ومووېل افضل خان خټک ګنو.

افضل خان خټک د اشرف خان هجري زوی او د خان خوشال خان خټک لمسی ؤ، دی د ١٠٧٣ هـ ق کال شا او خوا زيږيدلی ؤ، او د ١٠٩٣ هـ ق شا او خوا د خپل پلار ترنيول کيدو وروسته د خټکو د خانۍ دستار خان خوشحال خان خټک پر سر ورکيښود (٢) او تر ١١٥٣ هـ ق کال پورې يې ٦١ کاله د خټکو خاني وکړه (٣).

افضل خان خټک د جنګونو، ننګونو او د سياست د کړليچونو تر څنګ لکه د خپل پلار او نيکۀ غوندې د قلم خاوند هم ؤ، پۀ نثر کښې يې پياوړی قلم درلود، شعر يې هم ترجمه کولای او جوړولای شو، چې ځينې قطعې او بيتونه تري راپاتې دي، خو داسې روانه طبعه يې نۀ وه چې غزلې، قصيدې او نور شعري اصناف وليکي او پۀ پای کې د ديوان خاوند شي.

داسې ده لکه يو دوست چه ددوستی له خواړه نوم څخه بده استفاده کوي او له خپلو يارانو پورونه اخلي او هغه خواران خپلو کورونو او خپلو ماشومانو ته شرموي. زه به د خپل دې صميمي دوست په کومه ادبي کمزورۍ پرده وغورزوم او دده بې هنرۍ ته به د هنر په کوم عالی مقام په کوم جرات قايل شم؟ که دی له ځان سره زما غرقول او شرمول نه غواړي ولې مې په ميدان دروي؟

- په دې کې شک نشته چه خورين صاحب ډير اخلاقي انسان دی. ډير فضايل لري کولای شې چې د دوی په شخصيت وړغيږې.

ما ورته وويل: - دافسوس خبره داده چه نن صبا خلک خپلو چټيا تو ته تر خپلو اخلاقي فضايلو په درنه سترګه ګوري، دی په دې تمه دی چه کتاب يې وستايم. په شعرونو يې وړغيږم او افکار يې تشريح کړم. دی په دې نهوهيږي چه زه ده ته دده د نيکو صفاتو په وجه احترام لرم نه دده د شاعرۍ له امله.

- دا چه ده تاته دا کار حواله کړی دی ممکن په دې کښې به هم ستا خپل لاس وي او تابه ديته لمسولی وي.

- باور وکړه چه کله مې هم نه دي ورته ويلي.

- باورځکه نه کوم چه خورين صاحب ستا د ډيرو کلونو يار دی، تا ته به يې خپل هر شعر ځوځو واړه در اوړولی وي او تابه سر ورته خو ځولای وي.

- دا درسره منم چه د ډیر وخت یار مې دی او هر وخت ئې خپل شعرونه را اورولي دي او ما هم واه واه ورته ویلي دي.

- معلومه شوه چه تا پخپله له خپل دوست سره ښه نه دي کړي په بیځایه احسنت او شاباش دی غلط تصور وربخښلی دی که دې د دوستی حق په ځای کولای یا به دې دی د خپلو شعرونو کمزوریو ته په پسته لهجه ملتفت کړی وای یا به دې ور اصلاح کړی وای چې نور یې داسی سست او بیخونده شعرونه نه لیکلای متوجه کړی یه دی وو چه که خوا مخوا شاعري کوې نو څه مطالعه وکړه خیر دی که درنه خوشحال شوی نه وای یا به یې بل مصروفیت ځانته غوره کړی وای یا به ئې مطالعه کړې وای،په دې دلیل تا ورسره ظلم کړی دی چه په عین دوستی کښې دې دی خپلو عیبونو ته نه دی متوجه کړی. دی به په تاباوري وو، دی به ممکن په دې عقیده وو چه ته ئې صمیمی دوست ئې،نه لباسی دی ستا بیځایه واه واه ویلو غافل کړی دی.

ما ورته وویل:- نو ما خوله ځانه نه شو خوا بدی کولای.

- که دوست خپل دوست خپلو کمزوریو ته ملتفت نکړی بل به ئې څه ملتفت کړي چې دی دې په کمزورو سستو ئې مطلبو او بعضاً غلطو اشعارو تشویق کاوو اوس ئې باید په بیځایه ستاینه کې ځان هم ورسره

وشرموی او که دې پخوا ددوستۍ حق نه دی ادا کړی اوس یې ادا کړه.

د شریف خان د خبرو هیڅ ځواب راسره نه وو چه دی پاڅید. دا څو کرښې مې ولیکلې اوس منتظر ناست یم چه خورین صاحب راشي او وروبې سپارم، معلومه به شي چه دی به مې وبخښي که به مو د تل لپاره د یارۍ دوستۍ اړیکی سره وشلیږي.

کلي هغه دی غرونه راغونه آب روان او سبزه باغونه
ورځنې ولیږ اشناوګړی هجران یې راکړل په زړه داغونه
کاظم شیدا

استاد آینه

بیچاره شاعر

ساینتست های امروزی، شعر را با قوانین طبیعی، فرضیه های علمی، دکتورین های فلسفی و فورمولهای ریاضی، تطبیق وقیاس می فرمایند.

البته از دیالکتیک و تیز و انتی تیزو سن تز هیگل نیز به التفات شعر نه فهمان خشک نهاد، این هنر زیبا رهای نیافته و زنجیری برای آن در نظر گرفته اند.

اما انصاف آنست که"درس عشق در دفتر نباشد"

شعر پدیده ای نیست که به قالب ریز ندویا وزن و اندازه نمایند.

سیاله ایست که جان وروح و مغز و دیگر امواج نشناخته، در آفرینش آن شاعر را درمی یابند و باخودی برند آنجا که خاطر خواه شانست. پس از شاعر چه انتظار باید داشت.

مایهٔ شعر در عوالم برین و در پس هفت پرده نهانست، جز احساس ماوراء اندیشه شاعر به چنین عالمی دسترس برای هر کس میسر نیست.

بگذارید شاعر، شاعر بماند..

از دریچه چشم شاعر، دنیای خشک و هزاران ذلت و ناکامی ها را گاهی مشاهده نمائید.. و انگاه داوری کنید!

یون

مګړه سندره

زه یوه ورځ په کابل کښې د اطلاعاتو او کلتور دوزارت لـه مخې سره روان وم، د وزارت لـه زیرخانې نه د یوه بندي بلبل غږ راپورته شو او زما غوږ ته لـه رارسیدو سره یې دا منثوره سندره زما په ذهن کښې وزیږوله.

زهٔ شاعریم!
بلبل هم شاعردی!
زما شاعر خوښ دی!
نو ځکه مې بلبل هم خوښ دی!
زمـا او ددهٔ تـوپـیـر دومـره دی چې زهٔ ددهٔ لـه شعرونو نه خونداخیستلای شم، خو دی زما شعرته غوږ لاهم نه نیسي.

زهٔ نور ددهٔ په ژبه نهٔ پوهیږم، خو دومره پوهیږم چې دی شعر د شعر لهٔ پاره وایي او خپل ګل پکښې ستایي، د هرې ورځې سندره یې مکرره ده او د یوهٔ بلبل سندره د ټولو بلبلانو د سندرو نمونه ده. خو زهٔ شعر د ژوند لهٔ پاره وایم، د هر شعر هره کرۍ مې لهٔ بلې سره توپیر لري او زما داولس د ژوند انځورونه پکښې نغښتي دي.

کوم شاعر چې په دې وخت کښې شعر د شعر لهٔ پاره وایي نو ماته دی او بلبل یو دي.

شعرونه به یې خوند لري، خو سندره به یې مکرره وي. ذهن به بوخت ساتي، خو احساس به نهٔ شي خو ځو-لای. وخت به تیرو لای شي خو وخت به بدلولای نهٔ شي!

۱۳۵۵-۹-۲۷

کابل، محمد جانخان وات

امان الله ساهو

دا وحشي بوټی

دا وحشي بوټی چې د بهاري ګلونو په خوا کښې را ټوکیدلی، تاسو ته وړاندې کوم.

دامنم چې د رویایي څوړمنو رنګیني به نۀ لري، او د عطرو بوی یې څوک نۀ تحریکوي.

خو: تاسو یې لۀ ما څخه د ګیډی ګلانو پر ځای قبول کړئ.

زما د احساس پر څمکه د کینې او نفرت پلی وریدلې، او اوس دا وحشي بوټی د ښایست او مینې

ګلونه نۀ راوړي.

خو: زۀ دا وحشي بوټی تاسوته وراندې کوم.

تاسو ته:

ای، زما د ورکتوب رنګینو شهو، چې لکه حسین خوبونه لنډ او زودګذره وئ

ای زما د کلي خړو دیوالونو، چې لۀ همځولو سره د پټ پټاني پۀ وخت ستاسو تر شاپټیدم.

ای زما د کور ترشا د اوبو ویالې، چې زما د ماشومو ستړګو تر اوښکو رالنډې او تر ښایسته ساحلونو ښایسته وې.

ای زما د لوبو، سبق او مکتب همځولو، چې نۀ پوهیږم اوس به چیرته یاست؟

۲۹.۱۰.۸۹

محمد اجمل

خاطره

دا خاطره راته گران ورور نثار احمد اکسیر بیان کړه

چې په ده کښ مټ تېره شوې ده.

د روسانو د راتګ په وخت کښې مې د نادریې په لیسه کښې زده کړه کوله او په دیارلس سوه یو شپیتم کال (۱۳۶۱) دولسم صنف ته کامیابه شوم. دهمدې کال د ثور په میاشت کښې له کوره احوال راپسې راغی چې تعلیم پرېږدم او خپل کلي ته چې د خوګیانیو په اولسوالی

دده مشهور آثار دادي:

۱- تاریخ مرصع چې هم لۀ زړو تاریخونو لکه د نعمت الله لۀ مخزن افغاني او نورو څخه د ژباړې برخه لري، هم داقتباس برخه لري، چې د خوشال خان خټک لۀ بیاض نه مطالب را اخلي او هم پۀ خپلو سترګو لیدلې پیښې لیکي، چې پۀ دې توګه داپیښې د پښتنو د تاریخ لۀ اساطیرې روایاتو نه رانیولې بیا تر ۱۱۳۶ هـ ق کال پورې رارسوي. دا تاریخ لومړی ځل په بشپړ دول اروښاد استاد کامل مومند لۀ جامعې سریزې او حاشیو سره پۀ ۱۹۷٤ ع کال پۀ پیښور کې د یونیورسټۍ بک ایجنسۍ لۀ خوا خپور کړ.

۲- دده بل اثر دکلیله د منه ژباړه ده، چې لۀ دري نه یې پۀ روان نثر ژباړلې او ځای پۀ ځای شعرونه هم لري، ددې اثر ژباړه یې پۀ ۱۱۲۸ هـ ق کال شرو کړې او پۀ ۱۱۲۹ هـ ق کال یې پای ته رسولې ده، پنډ کتاب دی قلمي نسخې یې د پیښور پښتو اکیډمۍ، د افغانستان ملي آرشیف او د برتانیې پۀ بریټش موزیم کښې خوندي دي.

۳- د عرفاني تفسیر ژباړه.

پر دی سربیره د افضل خان خټک په هڅونه تاریخ اعثم کوفي او نور پښتو آثار تألیف او ترجمه شوي او هم یې د خوشال خان خټک د آثارو خورې ورې نسخې پۀ

کې دی ولاړ شم. زمونږ سیمه په دې وخت کې آزاده وه اوزه چې په اوړې خپل کلي ته مهاجر شوم، په همدې منی مې تره وغوښتل چې واده راته وکړي، زما د خسر کور په جلال آباد کې و، تره مې هغوی ته سړی ورولیږو چې په پلانکی ورځ به د سره رود د اولسوالی له مرکز سره نژدې د احمد زیو په کلي کې سره ګورو. کله چې دوعدې نیټه راورسیده، زه او تره مې تاکلې ځای ته ورغلو، له خسر سره مې وکتل، زما تره دواده ورځ ورسره معینه کړه. همداشې داحمد زیو په کلی کې پاتې نه شو، ځکه چې داکلی دسرخ رود اولسوالي ته نژدې واوددې ویره وه چې د شپې تلاشي نه شی، بیا مودخپل کلی په لورد اوږده سفر موزې په پښوکړي چې لږ څه مزل مو وکړ، تره مې راته وویل چې زه به بیرته وګرځم. فقیر محمد (دده اندیوال و) به وګورم، یار سړی دی، کلی ته یې راغلی وم، هسې نه خوابده کړي، ته کورته ولاړشه، زه یواځې رارهي شوم سات دوه مې سفر وکړ، دفتح آباد کلي ته راورسیدم، دلته زما د ملګرو کور و، زړه مې وشو چې دهوی پوښتنه وکړم. داکلی په یوه لویه وچه بیدیا کښې پروت دی. شمال ته یې دباغوانی او بالاباغ سیمې دي چې ددې منطقو شاته هسک تورغرولاړدی.سهیل ته یې د چپرهار اولسوالي، هده او فارم، مشرق ته سلطان پور او غرب ته یې زمونږ منطقه سقاوه پرته ده او شاوخوا

دشته یې غونډې غونډې ده چې هرې خواته یې څوک سفر وکړي نو کم لهٔ کمه لهٔ یوه ساعت پیاده مزل نهٔ به وروسته آبادي ته ورسېږي، دلته زما دوستان ما ته ډېر ټینګ شول چې ورسره پاتې شم نو زما لهٔ دوی سره شپه شوه. د شپې ارامه وېده وم خو د ګهیځ اووه بجې به وې چې دالوتکو غرهاری شو. موږ د کور پهٔ بام سرونه لهٔ زینوڼ ورهسک کړل. شاوخوا لرې لرې برګې څرخي الوتکې کښېنستې، عسکر یې ښکته کول. دکلي والو پهٔ زړونو وام ور ننوت. یو خوابل خوا یې مندې وهلې لهٔ شاوخوا قرارګاهو نهٔ یوسل اوشل تنه مجاهدین همدې کلي ته سپېده چاود رارسېدلي وو، چې ډېر پکښې زمونږ د کلي وو. ددوی پهٔ مرکزونو روسانو حمله کړې وه او ډېر یې پهٔ لوی خورکې چې دهمدې کلي دنمرخاته لورته سل دوه سوه ګامه لرې تېرېږي پټ پهٔ پټه راغلي وو. د کلي سپین ږیرو او سپین سرېو مجاهدینو ته خواست وکړ چې پهٔ دښمن ډزې ونکړي، ځکه چې ددوی اسلحه ډېره کمزورې وه، مشران پهٔ دې دارېدل چې پهٔ دې خالي توپکونو به څه ونه شي، هسې به کلی تباه شي. لهٔ دې سوبه ځینو خپل توپکونه پهٔ خاوروکې ښخ کړل، چا پهٔ انبارهٔ کې ومنډل او بعضو بیا د بوټو پهٔ کوټو کې او دغواو پهٔ غوټلو کې دلرګیو او پرور وپهٔ منځ کې کښېودل. ځوانانو یوخوابلخوا ځانونو ته د پټېدو ځایونه غوښتل اوزه چې پهٔ کوم کور کې وم، ددې کور

په سر یوه بالاخانه وه او کومې زینې چې له لاندې پورې نه پورته ختلې وې، ددې پورېو لاندې ځالې ځای و. کوربنوونکي ځای مخته پخځه وهلې او په یوه کونج کې یې یوه کوچنۍ خولۀ ورپرې ایښې وه. د کور والو له مانه خواهش وکړ چې دې غار ته ننوځم او هلته پټ شم. زه ورننوتم. دوی دغار مخ ته ځومنه بوټی واچول چې د غار خولۀ ښکاره نه شی او دهغه له دی چې دوی د دې غار خولۀ بنده کړي، ما ته یې یو لالټین راکړ چې دهغه رنا ته کښېنم، خو کله چې دغار خولۀ پټه شوه ما اورلګید راواخست، ځو تیلي مې ولګول مړه شول. ځرنګه چې هسې هم وام پسې اخیستی وم، نو د دې حالت په لیدومې، ساه نوره هم ډوبه شوه، نو مجبوره شوم، دیوال مې ودرباوه، کوربنو ژر ژر لرګي لرې کړل اوزه راووتم. ما ورته وویل هلته زما ساه بندیده او که په دی غار کې ما ونیسی نو د ژوند ځکه به بیا ونکړم او که تاسو یې ووژلئ پریږدئ زه له تاسی څه زیات یم. دوی وویل نه ته میلمه یې ته پټ شه، موږ به خدای ساتي، ستا پټیدل ضروري دي، خومانه منل. بیا مې ورته وویل: که په سپین میدان مې ګیر کړي، نو شا ید ژوندی به پاتی شم، خودوی ډیر ټینګار کاوه چې زه پټ شم.

موږ په همدې جنجال کښې وو چې روسیان په وره رانوتل. دوی دکلاشنکوفونو ګیټونه ورکش کړي ګوته په ماشه وو. په روسي لګیاشول، خو نه سره پوهیدو. په

یوه نیمګړي جمله یې پوه شوم چې ویل یې «توبسمچی». ماورته دنه په ځای سروخوځاوه. په جیبونو توش شوم. له ماسره دلیسې کارډ و. وخت یې هم نه وتیر، هغه مې ورته ونیو، عسکر زما لاس په زوره پورې واهه او دوی دکور په لوښیو کودیو سره لګیاشول. هر څه به یې دبرچې په څوکه وهل، دیرې پیالې، رکابی او چینې چاینکې یې له کټکونو را وغورځول چې توکر توکر شوې. د کور له لیدو ورو سته یې زما په ملا د کلاشنکوف میله کیښوده، پورې یې وهلم او ترټولو یې زه د مخه ورسره وایستم او له دې چې همداکور د کلي په خولۍ کې و، نو اول (پسې) او بیا یې د نورو کورونو پلټنه شروع کړه. چې هر کورته په ورتلل څوانان به یې له ځان سره کړل او دنوي کور د تلاشۍ لپاره به یې اول موږ کورته ورننیستو، بیا به له شادوی پسې راتلل، سخته تلاشي به یې کوله، حتی هغه د پوالونه چې لږ به پرسیدلي ورته ښکاره شول، نو دټوپکو برچې به یې ورچې کړې او چې دیرې خاورې به یې له دیوالونو راوتوزلې بیا به په بل شي اخته شول او چې د کوم کور ښځو به غالمغال ورسره وکړ، و به یې ویشتې. همداسې وروسته له ځلورو ساعتونو له کورونو راووتل. دوی د کلي دوکانونو ته ورغلل. د کارشیان او خوراکي مواد یې ترې ولوټل. بیا له کلي سره ووتو. ما چې سترګې وغړولې، کلی ګرد چاپیره محاصره و چې دولس نیمې

بجې کیدې مور یې کلي ته ورځیرمه غونډې ته
وروخیژولو. هلته تر قضا مازیګره پورې ددوی ځني
فوځیان په کلي کښې اخته وو، وروسته له هغه له
شاوخوا سوکه سوکه عسکر راټولیدل، ماښام مال دتور
غره لخوا تکه توره وریځ راغله او داسې تیز باران له
تالندې سره شروع شو، چې مایې نظیر په خپل عمر
کښې نه ولیدلی اویا نهوهیږم چې د دار، ویرې او
وارخطایی له لاسه ما داسې فکر کاوه. تر ماسخټه پورې
باران وار په وار تیزیدو او توره وریځ ورو ورو راتیټیده
په دې وخت کې یو افغان راپیداشو. اول یې مخ مانشوای
صحیح کولای، خو کله چې ښه ورته ځیر شوم، نصیر
دهمدې کلي اوسیدونکی و. ځو کاله مخته د خلقیانو د
حکومت په سر کښې لا کابل ته تللی و. ده مور ته
وویل: تاسو اشرار یاست.ځني موبیا له اشراروسره
مرسته کوي، ما ځوځله تاسو ته حال درکړی و، چې سم
شئ خو تاسو په خبره نه یاست، آخرمو دا انجام شو.

دده له خبرو وروسته د تالندې غرهاری او بریښنا
دومره ډیره شوه چې له تیز باران سره یې وحشت
نورهم ډیراوه او کله چې روسان ټول له شاوخوا راټول
شول، ښه تیاره شوې وه. دوی مور په ټانکونو کښینولو
او کاروان رهي شو. چې تقریباً یو ساعت مزل موکړ،
مجاهدینو دسر په ټانکونو ډزې وکړې. له ډزو سره
کاروان ګرندی شو او وروسته له لس شلو دقیقو ډزې

غلی شوی. ددی دزو په وخت کښې روسان ټول په ټانکونو کښې ننوتل او له دې چې له یوې خوا له ډاره دوی د ټانکونو څراغونه مړه کړي وو او له بل پلوه ټپه تیاره وه او لاري لوړې ژوړې لرلې نو یو دوه ځله زموږ شا ته دریم او ځلورم ټانک په خټوکښې ونښوت، خو بیرته یې زر راوایستل.

په کوم ټانک چې زه سپوروم، زموږ د ځینو ملګرو سره پیسې وې. هغوی د ټانک له سره منځته ورکوزشول. روسانو ته یې پیسې ورکړې. هغوی دوی پوه کړل چې ځانونه وغورځوي. په دې حساب زموږ له ټانک نه درې کسانو ځانونه واچول او ځرنګه چې لاره غونډۍ غونډۍ وه نو دشایاد مخ ټانک ته به غورځیدونکی نه ورښکاریدو. ما هم جیب ته لاس کړ، دوه نیمې افغانۍ راسره وې. زړه مې دیر خوابدی شو، چې: خواره ځانه له خپله لاسه. خو کله چې روسانوته ځیر شوم، دوی په هغو کسانو چې پیسې یې ورکړې چندان پام نه و، نو بلې غونډۍ ته چې ټانک وخوت ما پښې سره راټولې کړې چې د ټانک مخه په ځور شوه، ما توپ کړ. د غونډۍ ځنګ ته شیله وه. په دې شیلې کښې مې منډه کړه. وروسته له هغه چې یو - دیرش ګامه مې په کړو په ملا واخیستل، دیوې غونډۍ دکمرۍ بیخ ته کښیناستم. د کمرې په بیخ کې غار و، زه دې غار ته ننوتم. د غار مخه د غورګی بوټي پټه کړې وه. ما د

ټانکونو غرهاری اوریدو. ددوی د چینونو دربا می حس کوله او کله ناکله به غږ دومره رانژدې شو چې ما به ویل ټانک مخته راته ودریدو، نو راولاړ به شوم چې رهي شم، خو بیا چې به می ختو ته او هغه د مړه پوتی چکړو ته وکتل، نو تیښته به سخته راته ښکاریده او همداغار به راته دا منیت ځای معلومیدو، ځکه به بیرته کښیناستم. ورو ورو د ټانکونو غږونه پسې ورک شول، چې نیه ساعت تیر شو رنا شوه، زه راووتم، دغوندې لهٔ سړه می شاوخوا وکتل، د چپرهار د اولسوالی مربوطه سیمه وه. فکر می وکړ چې تر ټولو راته لنډ ځای د فتح-آباد کلی دی، نو بیرته د فتح آباد کلي ته راستون شوم. د کلي خلکو ځني مړي د شپې خاورونه سپارلي وو او ځیني یې زما تر راتګه وروسته ښخ کړل، او لهٔ دې چې ډیر ستړی وم او بل کلي ته لاړه اوږده وه، نو شپه می بیا پهٔ همدې کلي کې شوه. پهٔ کوم کور چې می ورمه شپه، شپه وه. د خدای پهٔ فضل زیان نهٔ و ورسیدلی، د هغوی خوانان هم راتښتیدلي وو. زه بیا د هغه کور میلمه شوم. لهٔ هغوی سره می پهٔ ویراوغم ورځ او راتلونکې شپه تیره کړه. پهٔ سهار یې بیا د طیارو غورهاری شو، خو غږ یې لرې و، چې بیا پهٔ بامونو وختو نو فتح آباد ته ورځیرمه د سلطان پور پهٔ کلي الوتکې راګرځیدې او لهٔ دې چې زمور خپل کلی د نوی بمبارېدونکي کلي پهٔ مخالف جهت کې پروت و، نو د خپل کلي پهٔ لور

وخوځیدم، په لاره کې ډیرډاریدم. که څه هم زه د جهازونو له خوا لرې کیدم، خو ما به ګومان کاوه چې د څرخي الوتکو بونګا وار په وار زما غوږونو ته رالډیږي، او له دې ویرې به ما ګامونه نور هم چټک کړل او چې شپه مزل مې وکړ په دشته کې مې په یوې سوځیدلې ونې سترګې ولیګدلې. د ونې لاندې یو مړی و چې ورته ځیر شوم «محمد ایوب» زمونږ د کلي اوسیدونکی و. لږ ورځیرمه په یوې کندې کې یې زوی «زړ ور». پخپلو وینو کې لڑند پروت و، یولس ګامه ورها خوا ددوی خر مردار و چې له خور جینه یې دوه چکۍ د کالو صابون په مځکه لویدلی و او نور مال او خورجین یې لا په سر پراته وو. زه حیران شوم. ما دوی کلي ته نه شوای رسولی، نو دامې وپتیله چې هر کله کور ته ورسیدم، د کلي خلک به ددوی له مړیو خبر کړم، چې دوی خپل ځای ته ورسوي. چې مایو، لس دقیقې نور سفر وکړ، «سخی» زما د تره زوی، غلام دستګیر زما دبل تره زوی، محمد اشرف زما د تره نمسی، عزت الله او لالا آغا زما دترور زامن او زمونږ دهقان سلطان محمد په مخه راغلل. دوی وویل چې مونږ په تا پسې راوتي یو، ویل موکه ژوندی نه وي، مړی خوبه یې راوړو، خو شکر دی چې روغ رمټ مو ولیدې. ما دوی د محمد ایوب او دده د زوی زرور نه خبر کړل. دوی په مړیو پسې ولاړل او زه کلي ته، راستون شوم.

ډاکټر محمد اکبر "اکبر"

مات سکوت

آسمان دې بره رابنکه
ځمکه دې ټوله کړله
زه د سترګو سیې په یوځپک وُدریدم
وخت دې ټرلی وُ
ژوند دې سور کړی وُ
خو ما سره ژبه مې وه
ژبې الفاظ را کړل
او لفظ:
هغه سکوت مات کړه
چې تا جوړ کړی وُ

لنډی

په سپېرۍ[1] خړ تانکونه راغلل
په توپو ولي سرو[2] غونډی سرې
زما په هغو سلام وایه
چې سپینې تلې پې پرسونل خوړلې وینه
سلام مې یارته نه رسیږي
د پیر بادشاه په کوټ پیرې ولاړې وینه
مرکوټکي داسې ځوانان یې وړل..
جې په پنکې هدیرې په ښکلې دینه
تولوڼکی : تنیوال

۱- سپېرۍ خوست ته ښکاري د یوه کلي نوم دی .
۲- سروبي په تنیو کښې د مجاهدینو غربی محاذ دی.
۳- د تنیو په دشته د یوه کلی نوم دی .

کاتبانو ليکلې او خوندې کړې دي.

دافضل خان خټک ژوند تر ۱۱۵۳ هـ ق کال وروسته څرګندنه دی او ښکاري چې د همدې کال په شا او خوا کښې وفات شوی وي.

ددې تفسير پيژندګلوی:

ددې تفسير لاس ته راغلې برخه ٤٧٦ پاڼې لري، چې په لوی ۲۱×۳۳ سانتي متره کاغذ کښله شوې، د ليک ساحه يې ۱۳×۲۳ سانتي متره ده او په هر مخ کښې ۲۳ کرښې لري. د قرآن کريم متن په نسخ ليک او ترجمه او تفسير په نستعليق پاخه ليک ليکل شوې دي. کاتب يې معلوم نه دی خو کاغذيې وروست شوی او له اړولو سره دوريږي، د نسخې له کړو وړو ځخه بريښي چې زړه نسخه ده او هماغه د تأليف په پيړۍ کښې ليکل شوې ده. نسخه په خراسي کاغذ ده، چې او به ورسيدلې، دوريدلې، وينو خوړلې، دودوهلې او زور شوی دی. هر مخ يې ددووسرواويوې آبي کرښې چوکاټ لري، بيلوونکې کلمې په سره رنګ ليکلې شوې، د قرآني آيتونو نخښې (دايرې) په طلايي رنګ دي او هم ځينې نورې بيلوونکې نخښې لکه د رکوع نخښه او نورې دپانو په ځنډو کښې په طلايي رنګ کار شوې، د سر ځوپانې يې لويدلې، له منځ نه يې هم ځو پانې کنډوې شوې او د پای له خوا نيمايي تفسير په لاس کښې نشته.

پيل: (موجود، په همهغه ليکدود):

مرحوم حاجی عبدالمنان (دردمند)

د جنګ خبرې خوږې ساعت پې تریخ دی

دا لیکنه اړواښاد دردمند دوه کاله مخکې کړې وه، موږ یې ددۀ د لیک د وروستۍ بیلګې پۀ توګه وړاندې کوو.

دا دنیا د جنګ میدان دی. د تورتم او رنا جنګ دی. د یخنۍ او ګرمۍ جګړه ده. تودې سړې پکې لاندې باندې کیږی. د بابا آدم (ع) د اولاد او د شیطان ترمنځ جګړه روانه ده، خو لۀ بلې خوا دا دنیا د نیک عمل کرونده ده. پۀ دې کرونده کې هم ګلان دي هم اغزي، هم جوهر دی هم زهر، هم خوند دی، هم رنګ، هم ادویه ده، هم اغذیه.

همداځمکه چې بابا آدم (ع) پرې خليفة الارض ټاکل شوی، د نيک عمل او الهی عبادت کوردی، د جنت ګټلو او بقا کعبه ده، د صراط المستقيم لار، د روحانی کرامت مرکز او د ايمان مدرسه ده. د نبيانو کور او قبلة المؤمنين، د حاجيانو کعبه ده. د عملنامې د ګټلو او اخستلو دا رالعلوم او دارالفنون دی، دوحدت المومنين کور دی. په ځمکه کښې او به هم شته او اورپکښې هم بل دی، الله تعالی دانسان د پوهيدلو لپاره دين او آسمانی کتاب قرآن عظيم الشان رالېږلی دی، دا جهان دانسان د فانی ژوند کوردی، لمر، سپوږمی، ستوری په خپل مدار ګرځي مګر انسان لا د ژوند د کاروان لار نه ده پيژندلی. انسان پکی زور شو، خو په عمر او دوډی مور نه شو، په پيسو ګټلو کې تری د ژوند قصې هيرې دي. د کور او ګور تر منځ ستړی ستومانه د يو سوي اسويلي پشان حيران پاتی دی. خپل کور ورته اور شوی دی.

تاسې وګورئ په دې کورکې هره ورځ د ښځې او خاوند جنګ، د خوابنې او نږور جنګ، د سپې او پيشو تربګنې. هغه حيوانات چې انسان ورته کورنې حيوانات وايي دانسان د تربيت او خوی بوی په اثر ديوه کور سپی د ګاونډی د سپې تربور دی، د يوه کورغوائی د ګاونډی د غوائې دښمن دی، د ډيران په سر د چرګانو جنګ، په کوڅه کې د ماشومانو جنګ، د بليو په سر د

ښځو ناندرې، په ګودر کښې د پیغلو پیغو رونه. په دښه کښې د ځوانانو جنګ، په کندو کښې د جوارګرو جنګ. په شارو کندوالو کښې د چرسیانو او پوډریانو جنګ، د افیم خورو توخی، د شرابیانو خنداګانې، د پیتیو په کاسه د شیخانو جنګ، په واده او خیرات کښې د تربورانو جنګ، ترځادر لاندې د مرزانو جنګ،د جنګ خبرې خوږې ساعت یې تریخ دی.

ښاروا‌و طوطي چې داشان خبرې زده کړې نو ځای یې پنجره شو.

په لارو کښې د شوکمارو او کاروان جنګ، په دروازه کښې د سپو او فقیرانو جنګ، د خیرات په ډوډۍ د فقیرانو جنګ، د بنو په جنګ کې ګټه د کوډګرو ده. په باندو کې د سپو او شرمښانو جنګ، په مدرسه کې داستاذانو مخالفتونه، تعلیم دیر شو، خو عمل هیر شو. سوله هم د مرغی پی دي، نوم یې شته په خپله نه شته.

نو ای حضرت انسانه، ای د ځمکې په سر د ودانۍ معماره، راشه لږ بل چانه، نه لږ خپل ځان نه پوښتنه وکړه، چې دا په څه خبره جنګ دی؟

دازې کندې او وران کورونه د چاشپیرې وهلې او اوسیدونکي یې څه شول؟ ستا تاریخ څه وایي ګوره، په جنګ کښې ستړی شوې، زور شوې، خو مور نه شوې. علم دې زده کړ، خو د ځمکې په اسرارو او د عالم کائینات په راز خبر نه شوې ځمکې ته د خپل پلا ر بابا

آدم (ع) د راتګ مقصد درنه هير دی. کتابونه دی ولوستل، علم نجوم دې زده کړ، په طلسم وپوهيدلې، ابجد دې ياد کړ، په مسمريزم هم وپوهيدلې، په حساب کې دې شب يلداهم پيژندلی. پخوانی زمانې ته خو ساده زمانه وائي.

د تمدن او تهذيب دعوه ګيره! د علم په قوت فضاګانو ته والوتلې، دريابونو ته کوزشولې، د ځمکې زړه دی په پټو خزانو پسې غلبيل، غلبيل کړ، د دوزخ داوړلمبې دې هم په سوی ګيس کې وليدې. له اوبو نه دې بريښنا کشف کړه. د لمر لهٔ شغلو نه دې ذرات راټول کړل، اتوم بم دې تري جوړ کړ، خو د چاله پاره دې زهر وکړل؟

اخلاق او حوصله دې کمزوري شول. نشې او تماشې درنه پيکه شولې، سرتور ناموس ته د تمدن او زينت آزادی وائي. ترقي دې وکړله خو حقيقي عاشقي درنه په سرو سترګو ژاړي.

پيداوار او توليدات زيات شول، خود نرخونو په ترقي کښې د اسعارو په بازار کښې د صرافانو جنګ دی. په هر ځای کې اورلاندې، ديګ پرې باندې دی.

ستانشې د نوې مترقي زمانې تماشې دي. سينماګانې دې جوړې کړلې، ستانشې هم د سينما نندارې دي.

وګوره ای حضرت انسانه! ستا په کور کې تر

جورونه ناجوړه زیات دي،له رښتیا نه پکې دروغ ډیر دي. ځمکه هم دنشودکه شوه. ستا باغونه او کروندې هم رشوت خوړې شوې، دغلي دانې خوند درنه پیکه شولو. کیمیاوي سرې غله ډیره کړه خو ذایقه یې کمه کړه، اوس دې علاج ته جراحان هم حیران پاتې دي. په باغ او کرونده کې دې نشې او تماشې روزی شوله.

ای حضرت انسانه! وګوره که نه د ګوتو په حساب ځان ته پیدا کړی عذاب وشمیره؟

د خولې نسوار، د پوزې نسوار، د چیلم لوګی، د سګرټ لوګی، د چرسو لمبه، د شرابو سرې سترګې، د افیم نشې او تماشې، د بنګو خمار، د کوکین خوښولې سترګې، د پان سرې شوندې، د ټندای تاؤ سنده پرکالی او د خوب ګولی دی مبارک شه. ژړا او خندا غاړی ورکړی، حوصله کمزوری اخلاق مرور، شیطان درته د جنګ نغاړي وهي. هر ځای ته چې لاړشې شیطان درته د جنګ لپاره تربور پیدا کوي. د مرضونو نومونه هم ډیر شو. مینه دې سره او وینه دې توده شوه.

د جنګ خبرې خوږې ساعت یې تریخ دی.

د نړی رنځ او سرطان مرض دارو دې کشف کړل خو تخنیک درته زهرې ګولۍ اوزهرې وسلې درڅېښودل، لږ په خپل ګریوان کې فکروکړه. داوسلې او توپو نه توغندي او بمونه ناد چا د مرګ لپاره جوړکړل او د څه لپاره؟

افسوس ستا په حال. د غرګې او کوتک په جنګونو کې دې سرمات او سرې ویني وبهولې. په چقمق دې سینې غلبیل کړې. د بخت نصرعام قتلونه لکه چې درنه هیر دي. د نمرود عام قتل، د فرعون ظلمونه، د چنګیز خنجر چې انساني کورنۍ یې میراتي کړې دي. د نړۍ لومړی لوی جنګ چه مملکتونه مستعمرې شوی د نړۍ دوهم لوی جنګ چه زیګ فرید او خط ماجینو غوندې سنګرونه پکې غلبیل، غلبیل شول. هټلر او موسولینی پکې تر ې تم شول،مستعمرې آزادې او کوچنۍ هیوادونه جوړشول. یوه کور یا دوه ځای شوه. یو آلمان په دوه برخو وویشل شو. یو هندوچین د سطرنج توټه او دزور آزمائښ سنګرونه شول.

په هیروشیما کې د چاؤدلې اتوم نه لا داور سپرغې ماجراجویانه اخطار درکوي، د یونان او ترکې ترمنځ لانجه ورانه ماشوره پاتې ده. د هند او پاکستان ترمنځ د کشمیر په سرمخالفتونه،د سپینې مانې او کریملین ترمنځ ګواښونه دزهرې وسلو او توغندو مسابقې، د ایران او عراق ترمنځ دوینو باران او د مرد کوډلې، په پیښور کې داوه ګونو تنظیمونو مشرانو ترمنځ مخالفتونه، د مصر د کانال سویز آزادې او په ارشلم کې د ناسورداغ د (۱۰۰) میلیونو عربو په مقابل کښې د دوه نیم میلیونو یهودي دولت جوړیدل. دنیا بیا دوه دلې شوله. په لبنان کښې لنډې قیامت دې. په بعض افریقائي

هيوادونو کښې دانسانيت بچي د لوړې او د درملو دنشتوالي له کبله مري

په افغانستان کې د دهريت او سره استعمار دلاسه د افغانستان ملت په سر او مال تالان ګډ دی. عام قتلونو ته د نوې ټولنې جوړول وائي.

د ترقی او نوې ټولنې جوړولو نارې د غريب انسان ژوند داسې بې اهميته کړی لکه افغاني روپۍ چې د خارجي اسعارو په مقابل کې د ماشومانو دلاس هوائي پوقانه.

غل حاکم شو، شراب خور وزير شو، جوارګر سرتيری شو، چرسی علي البدل غری شو، بشکلی د سازمان نشه او تماشه شو. عدل او امنيت دوسلې استعمال د نوی مترقی دنيا د جوړولو شادنامه شوه.

نوای حضرت انسانه! د کوتک غرګی جنګونه دې وکړل، د جقمق او توری دال جګړې دې وکړلې اوس د انسانيت د تباه کيدو لپاره په زهری وسلو، توغوندو، زهرې لوګو، اتوم بم او هايدروجن بم باندې هم ستاخوايخه نشوه.

خندقونه دې هديرې شولې، سپوږمی ته والوتلې خو د ځمکې په اسرارو لانه ئې پوهيدلې. ځکه تا دانسانيت د مرګ لپاره زهرې وسلې جوړې کړې دي.

ستا دلاسه دانسانيت بچي يتيمان ميندې بورې، بښې کوندې دي. آخر څه غواړې؟

زلزلې او آتش فشان تاته اخطار درکوي، تاجیلونه جوړکړي دي، تا ترڅي کړې ده نو هدیرې ستا په ترڅې لعنت وائي. نو راشه توبه ګار شه. ستا د جګړې ارمان درمان ندی. ستا کردار ستا د پښیمانۍ رومان دی. که تا جنګ ته خاتمه ورنکړه نو پوه شه چې جوج، ماجوج هم لګیا دي چې سد سکندر سوری کړي او ستا د جګړې خاتمې ته راووځي. ګوره د شیطان او د پیریانو د خندا شولې، ستا دروغجن تقریرونه د ملتونو تدبیرونه او تقدیرونه نشي سمولی، ځکه د ملګرو ملتو جهاني مؤسسه هم ستا د لاسه ورانه ماشوره ده.

که تا ځان اصلاح نکړو نو د پخوانۍ بین الاقوامي جرګې پشان به د ویټو پۀ استعمال د مرور پۀ شان مندې وهې او مدنیت به د سرې ډیران شي. د خپلواکۍ او ډیموکراسۍ جنازې به د آتش فشان خوراک شي بیا به ارمان کوې خو دا ارمان به دې د پښیمانۍ رومان شي. ځکه د جنګ خبرې خوږې ساعت یې تریخ دی.

غزل

سیف مومند

دژوند صحرا کښې مې تنها کو هر تلې بنکل کړو
د بېلتانۍ سوو داغونو مې زېرګې بنکل کړو

نن تلې چې زېړی د آشنا د راتلو وکړو پۀ ما
له خوشحالۍ مې دې وارې ریبارتندی بنکل کړو

زما نظر لا دِ لیلیٰ رخسار بنګل کړی نۀ وو
چې حیا زرد لیلیٰ هریو انګی بنکل کړو

دوران کودر ماتو منګو پۀ هدیره کړځېدم
ما پۀ ژړا هر شهید شوي شین منګی بنکل کړو

خیر دی که شوندي پلهٔ خپلو وینو تکي سرې شوې
دګل پهٔ مینه مې اول اول ازغي بنکل کړو

❦

جوړې زما مُحبّت هم جنون ته ورسېدو
چې مې بې فکره دلیلۍ د کوڅې سپیٔ بنکل کړو

❦

تلم پهٔ سفر تورو تیاره ما تړي رخصت اخیستو
ژړم وارخطا ما د مړوند په ځای بنکړي بنکل کړو

❦

پهٔ وچو شوندو به یې سا پټرې د تندې نه وې -
که « سیف » مومند د کړۍ میوجامکی بنکل کړو

«او پهٔ جاروتلی لار د کشي پروتلي دي، يا پر لارد ترسايانو چه پواسطه د افراط پشان د عيسی او په تفريط په باب د حبيب صلوات الله وسلامه عليهما کمراه شوی دی آمين داهسی دي وي آمين داخل کلام ملک العوام نه دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

الم°حرفون مقطعه اسرار د قرآن دی هر کس پهغو خبر نه لری ويلی دی چی پمعنی د الم الله تعالی اعلم دی يعنی زه خدای دانا تر ذالک الکتاب هغه کتاب چه خداوند تعالی په وژاندِ کتابونو کشي چه راستول د هغه وعده فرمايلی وه دا کتاب کامل°يعنی قرآن.

پای (موجود):

راوژی دی چه پهٔ صباح ی ددشپی قصه د معراج تقرير بيان و فرمايل مومنانُ تصديق ظاهر کرُ او کافرانو طلب ددوری عظيم باهر کرُ نشانی د بيت المقدس و پشتيد او هغه مسجد وژاندِ دده په نظر کشي مشتمل شه له هر حيه چه به ئ طلب کول له نشانو به يی د هغو خبر ورکرُ. (٤)

په دي تفسير شريف کښي د ګڼ شمير تفسيرونو، د احاديثو د کتابونو او د عرفان او تصوف د کتابونو نومونه راغلي چې اصلي مؤلف استفاده ترې کړې لکه: طوايف امام قشيري، تفسير قرطبي، تفسير حسيني، عين القضات، کشف الاسرار، حقايق نجميه، مقامات خواجه

سپیدک

دوه میاشتنی ادبي اوکلتوري مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓئُهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ
يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ
اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

سورة البقرة آیت (۲۵۷)

شرح پشتی:

پورتریت عارف و شاعر بزرگ کشور
مولانا جلال‌الدین محمد بلخی رحمة‌الله‌علیه

سپيدې

دوه میاشتنی ادبي او کلتوري مجله

دومه دوره ، ځلورمه ګڼه ، لیندۍ، ۱۳۶۹ پرله پسې ګڼه ۲۵

خپروونکی: دافغانستان کلتوري ټولنه

د ټولنې مشر: محمد صدیق پسرلی

کتونکې ډله: حبیب الله رفیع، میرویس موج
زرین انځور ، امان الله ساهو

مسؤول مدیر: محمد آصف صمیم

وجه اشتراک سالانه
در امریکا ۵۰ دالر
در اروپا ۴۰ دالر
در پاکستان ۱۵۰ روپیه

آدرس بانکی:

GRINDLAYS BANK
AC-No. 63239001
Peshawar Pakistan

آدرس پستی:

دافغانستان کلتوری تولنه
جی پی او پوست بکس نمبر ٦٦٥
پشاور پاکستان

G.P.O. P.O. Box 665
Peshawar
Pakistan

فهرست

شمیر	د مضمون سرلیک	د لیکوال نوم	مخ
۱ـ	نبوی حدیث	د مخلص ژباړه او لنډیز	۱
۲ـ	عرفانی تفسیر	الحاج حبیب الله رفیع	٤
۳ـ	د نورستانیانو لنډه تاریخی پیژندنه	سمیع الله تازه	۱٤
٤ـ	سنگرستان	م. صمد پور	۳۰۵
٥ـ	له ظفر کاکاخیل سره مرکه	د: محمد آصف صمیم	٤۳
٦ـ	دار	داکټر محمد اکبر	٥٦
۷ـ	سخن	م. حنیف	٥۹
۸ـ	شکایت	م. ر. شفق	٦۰
۹ـ	وصف الحال	استاد آینه	٦۲
۱۰ـ	تسلی	زرکه	٦٤
۱۱ـ	موری	امان الله نصرت	٦٥
۱۲ـ	تقریظ	م. پسرلی	٦۷
۱۳ـ	بیچاره شاعر	استاد آینه	۷۳

۱٤ـ	مکرره سندره	یون	۷۵
۱۵ـ	دا وحشي بوتی	احسان الله ساهو	۷۷
۱٦ـ	خاطره	محمد اجمل	۷۹
۱۷ـ	د یو انگریزي شاعر د شعر په الهام	ډاکټر اکبر	۸۸
۱۸ـ	لنډۍ	د تنیوال رالیږنه	۸۹
۱۹ـ	د جنګ خبرې خوږې ساعت یې تریخ دی	ارګاباد دردمند	۹۰
۲۰ـ	غزل	سیف مومند	۹۸
۲۱ـ	زاړه یادونه	عبدالوهاب بریال	۱۰۰
۲۲ـ	د شاعر زړه	ډاکټر خوږلن	۱۰۱
۲۳ـ	وطنه	میاګل اروال	۱۰۳
۲٤ـ	ستا په یاد	میاروښان خادم	۱۰۵
۲۵ـ	سرنوشت	استاد آینه	۱۰٦
۲٦ـ	مشت خار	استاد خلیلی	۱۰۷
۲۷ـ	فتح محمد فتح اسلام	محمود فارانی	۱۰۹
۲۸ـ	له پخوانی دوست سره	اسد الله غضنفر	۱۱۸
۲۹ـ	خلوتي باخلیلی در شبهای آوارگی	م. موج	۲۹ل
۳۰	د خزان سپرلی (لیک)	س. غ. چکنوری	۱۵٦
۳۱	ادبي او فرهنګي خبرونه	اداره	۱۵۹